هفته نامه

دجهاد هنداره

مـراة الجـهـاد

لومړی کال ، ۳۹ گڼه ، چهارشنبه د ۱۳۷۰ کال دجوزا ۱۵

PROPERTY OF ACKU

په گرديز باندې دمجاهدينو عمليات پراخه شول

په اتم مخ کې

۹پوسته رژيم دربغلان فتح و(۲۵۰) تن ازافراد آن گرفتار شدند

بغلان ، ۱۰ جوزا

به اساس گزارشیکه اداره رسانه های گروهی شورای سرتاسری قوماندانان جهادی به اداره جهاد هنداره فرستاده ، گفته می شود که مجاهدین دلیر ولایت بغلان طی حمله برپوسته های رژیم مزدور درمنطقه «پشم شویی » واقع در مسیر راه شبرغان ، ۹ پوسته انرا فتح وتعداد (۲۵۰) تن ازملیشه های انها را باسلاح دست داشته شان به اسارت داراورده اند .

خبر مذکور می افزاید درنتیجه این عملیات که بتاریخ ۱۰ جوزا اغاز شد ومدت دوشبانه روز ادامه داشت دومیل توپ «دی سی » پنج میل زیکویك ، ۱۱ میل ماشیندار و ۲۵۰ میل کلا شینکوف به غنیمت مجاهدین درامده است .

دشينډنډ په هوايی ډگر کی دړژیم ۷ الوتکی له منځه لاړی

کويټه،ميډيا :

قوماندان اسمعيل خان دهرات له ولايت نه ديوه راډيويی پيغام په ترڅ کی په کويټه کی د (ميډيا) نمايندگی ته رپوټ ورکړ چی مجاهدينو دجوزا په ۵ مه نيټه دسهار په اتوبجو ددرندو وسلو څخه په کار اخيستو سره دشينډنډ پرهوايی ډگر باندی عمليات ترسره کړل چی دهغه په نتيجه کی دملحدرژيم دری هلی کاپټر الوتکی ، دروغنياتو ديوی ډيپو سره سوزيدلی چی داورلمبی يی دلری نه په سترگوکيدی او دشپی تراتو بجو پوری يی دوام درلود .

رپوټ زياتوی چی ددغه اور دلگيدو په اثردرژيم د (سو ۷) ډوله جيټ الوتکو ددريدلو ځايونه داور لمبو نيولی ؤاودنوموړو الوتکو څخه څلورېي سوزيدلی دی .

درپوټ له مخی دمجاهدينو دډزو په اثر دهوايی ډگر دقوماندی په ځای کی درژيم يوه عراده پوځی لاری سوزول شوی اودښمن ته درانده ځانی تاوانونه اوړيدلی دی .

دغه راز مجاهدينو په همدی نيټه دشينډنډ دولسوالی پرمرکز باندی د درندووسلو سختی ډزی وکړی چی پکی دملحد رژيم ۲۵ تنه عسکر اوملیشه مړه او ۱٦ تنه نوريې ټپيان شويدی .

دخبرځای درپوټ په اساس په مقابل کی دکابل رژيم الوتکوپه نوموړی ولسوالی کی دمجاهدينو پرمرکزونو او دخلکوپراستوگن ځايونو باندی سختی بمباری وکړی چی پدی بمباری کی يی خوشه يی اواورلگوونکی بمونه استعمال کړل اويوزيات شمير کورونه يی ويجاړ کړی اوکليوالوته يی دراندہ مالی اوځانی تاوانونه اړولی دی

٤٠ تن از افراد رژيم در هلمند به هلاکت رسيدند

هلمند ، ميديا :

طبق يك گزارش از ولايت هلمند مجاهدين به تاريخ ٦ جوزا بالای ولسوالی گرشك وپوسته های امنيتی ان عمليات اجرا نمودند که در نتيجه يك پوسته رژيم تخريب، ٤٠ نفر از عساکر دشمن هلاک وتعداد زياد انها زخمی گرديده ويك ديپوی مواد خوراکی ازبين رفته است .

درخبر از تلفات مجاهدين چيزی گفته نشده است .

الحاج مولانا جلال الدين حقاني له امريکا غږ راډيو سره په مرکه کې وويل :

افغـانانـو ته داسې اتحاد پکاردی چې په هغه کې ټول جهادي قوتونه علماء ، قومي مشران ، سياست پوهان اوباديانته روشنفکران برخـه ولري

دوهم مخ کې

په ارغندي کې دذښمن هوايي اوځمکني بريدونه

دقوماندانانو شورا نظامي دفتر زموږخبريال ته رپوټ ورکړي چې دکابل رژيم قواو دجوزا له لومړي نيټې څخه تر ۷ پورې دکابل دائمي اواومي فرقې څخه دمجاهدينو مورچې اوسنگرونه دپغمان ولسوالي دارغندي عليا په سيمه کې دلري وېشتونکو توپونو اوجيټ الوتکو ترسختو بمباريو لاندې راوستل چې پکې ولسي خلکو ته مالي اوځاني تاوانونه اوښتي .

خبروايي په مقابل کې مجاهدينو دجوزا په ٥ نيټه درژيم په نوموړو فرقوددرنډو وسلو ډزې وکړې چې درژيم قواو ته يې تاوانونه اړولي دی.

مجاهدينو دکندز په ولايت کې ٤٢ تنه مليشې اوصاحب منصبان نيولي

کندز ، ميډيا :

په پيښور کی دکندز ولايت يو خبر ځای دجوزا د۷ نيټی دراډيويی پيغام په حواله ميډيا ته رپوټ ورکړچی : دکندز ولايت مجاهدينو دگډو بريدونو په نتيجه کی دمراد په نوم دکابل دکمونست رژيم دمليشه کنډك داتمانزی په دوه سرکه کی دشيرخان بندر په لويه لاره فتحه کړي او دکنډك مرستيال اوبريالی نومی صاحب منصب يی د (٥)تنو نورو افسرانو او (٣٦) تنه مليشه ؤ سره بنديان نيولی دی.

درپوټ مطابق دکابل رژيم قواو نوموړی مليشه کنډك دکندز ښار دشمالی ښاری برخی دڅارنی لپاره دمجاهدينو په مقابل کی دشيرخان بندر په لويه لاره ځای پرځای کړی ؤ .

رپوټ زياتوی مجاهدينو پدی بريالی بريدونو کی دمليشه کنډك څخه دوه عرادی ټانکونه ، دوه ميله هاوان توپونه ، يو ميل توپ ، يو ميل زيکويك ، څلورميله گرينوف اويوه عراده موټر په غنيمت نيولی دی .

دشکردرې په ولسوالی کې ددښمن پرقواو دمجاهدينو بريدونه

پروان ، ميډيا :

دپروان څخه خبر ځای رپوټ ورکړی چی دکابل رژيم ٦ تنه وسله وال عسکردپروان د٤٠ می فرقی د٦٥ کنډك څخه دمجاهدينو دعفوی په اساس دپروان مرکز ته نږدی دجوزا په ۳مه مجاهدينو ته په خپله خوښه پناه راوړی ده .

دميډيا په يو بل رپوټ کی ويل شوی چی دمزدور رژيم قواو غوښتل چی دکابل دشکردری ولسوالی دمجاهدينو په مرکزونو باندی حمله وکړی نو مجاهدينو درژيم له حملی څخه مخکی دوی په قواو باندی په کريم دره او ښبوبه تيگه سيمو کی دجوزا په ۳ مه نيټه حمله وکړه چی په نتيجه کی درژيم قواو ته ددرنډو ځانی اومالی تاوان اوړيدلو برسيره ۳ تنه عسکرو دوسلو سره نيول شوی دی

په ثمر خيلو اوکان قطرغې کې درژيم په پوستو دمجاهدينو بريدونه

ننگرهار، ميډيا :

مجاهدينو دجلال اباد ښارپه جنوب اوجنوب ختيځه په ثمرخيلو اوکان قطرغی کی درژيم په پوستو باندی يوبريد کی يوعراده ټانك ويجاړ او ۲۰ تنه عسکر اومنصبدار يی وژلی دی.

يوجهادی خبرځای دننگرهار نه ميډيا ته رپوټ ورکړ ، چی دننگرهار ولايت مجاهدينو دروداتو ولسوالیدثمر خيلو اوسرخ ديوال داستقامتونو څخه دکابل رژيم په کان قطرغی اوثمرخيلو شااوخوا دامنيتی کمربند پوستوباندی دجوزا په ٤ مه نيټه دټانکونو اوتوپونو پواسطه حمله وکړه چی پکی دکمونستی رژيم دامنيتی کمربندونو يوشمير پوستی ځپل شوی يوعراده ټانك داورلمبه اوله شلونه زيات منصبداران عسکر اومليشه وژل شويدی .

دروسيـی (۲۰۰) کـاريوهـان او انجنيران په افغانستان کی وژل شوی دی

(سميرنوف)

دروسيی يوه پوځی مشرجنرال يورگين سمير نوف چی په افغانستان کی دروسی پوځونو دلوی درستيز مرستيال ؤ په يوه مرکه کی وويل چی نږدی ۲۰۰ روسی کارپوهان اوانجنيران هغه وخت په افغانستان کی وژل شوی دی چی پدی هيواد کی پراته ؤ ،اتکل شويدی چی څوارلس زرو پوځی عسکرو هم په افغانستان کی خپل ژوند له لاسه ورکړی دی

نوموړی جنرال زياته کړه چی ۱۳۰ تنه روسی کارپوهانو اوپوځی مشاورين په حبشه اوانگولا کی هم له منځه تللی دی.

دکندهار ښار په دننه کی دمجاهدينو عمليات

کويټه ، ميډيا :

ميډيا دکندهار ولايت دقوماندانانو درپوټونوپه حواله خبر راکړی چی دکندهار ښار شاوخوا مجاهدينو دکندهار ښار په داخل کی دکندهار هوټل اوهرات بازار دکمونستی قواو په دری پوستو باندی دجوزا په ٤ مه شپه دراکټونواو ۸۲ ملی متری توپونو په واسطه يوه چريکی حمله وکړه چی په نتيجه کی نوموړی پوستی ويجاړی شوی ۲٥ تنه عسکراومليشه يی وژلی دی او ۲۰ نوريی سخت ټپيان کړی اويوشمير دکانونه اووداني زيانمنی شوی دی .

درپوټ مطابق دغه شان مجاهدينو دکندهار ښار په داخل دپشتون باغ سيمی پوستو باندی دسپکی وسلی پواسطه دجوزا په دريمه نيټه يوه بله چريکي حمله وکړه چی پکی دکمونستی رژيم سنگرونه تباه شول او ۷ تنه وسله وال عسکر يی وژلی او ٦ نفره نوريی دوسلو سره اسير نيولی دی .

رپوټ زياتوی چی اوس مجاهدين دکندهار ښار دامنيتی کمربندونواو سنگرونو څخه په اسانه سره دشپی لخوا دغه ښار ته تگ راتگ کوی کوم چی دکابل رژيم دښار دمحاصری اوامنيت ساتلو لپاره دمجاهدينو په مقابل کی جوړکړی دی .

خبر ځای په يوبل رپوټ کی زياته کړه ، چی مجاهدينو ددرنډو توپونو په ډزو سره دکندهار ښار په فرقه کی دجوزا په ٤ مه نيټه ۲۰ تنه عسکر وژلی اويو دالبسی يوه ډيپو يی سوځولی ده .

همدارنگه رپوټ زياتوی چی درژيم ۸ تنه عسکر اومليشه دتيښتی په وخت درژيم دپوستو په ايښول شوو مينونو باندی هم دمنځه تللی دی .

حمله راکتی مجاهدين برميدان هوايی بگرام

پروان ، ميديا :

به اساس گزارش واصله از کوه صافی مجاهدين دلير اسلام بتاريخ ۲٦ ثور يك حمله راکتی رابرميدان هوايی بگرام رهبری نموده که دراثر آن تلفات جانی وخسارات مالی فراوان رابرقوای دشمن وارد اورده است .

طبق گزارش ، درپی اين حمله طيارات رژيم ملحد مواضع مجاهدين ومحلات مسکونی رادراطراف کوه صافی بمباردمان نموده که راپور تلفات ان تاهنوز مواصلت نکرده است .

سرمقاله

څه ډول اتحاد

زموږ دمجاهد ملت غوښتنه اودحالاتو تقاضاده ؟

زموږ مجاهد ملت دخپل جهادی پاڅون په دی څه دپاسه دیارلسو کلونو کی دڅوکونو اتحادونو ، ائتلافونو اوعبوری حکومتونو درامنځ ته کيدلو اوبيا ړنگيدلو بيلا بيلی صحنی وليدلی ، هرځل چی په دغه يا هغه نوم څو جهادی قوتونه اوځواکونه په يوه سياسی تشکل کی،په څه ناڅه نسبی نظم اواداره راټول شوی، سره لدی چی پکی داختلافاتو زړي ښخ اوکمزورتيا يی له پيل څخه په يوه اوبله بڼه بريښيدله،څو زموږ مؤمنو وگړو دجهاد اوپاڅون دبرياليتوب په لاره کی کټور اونيك اقدام گڼلی اودخپلو هغو هيلو اوآرزوگانو سرته رسيدل يی وربوری تړلی چی لوی يی په خاطر دانومره ستونزی اوکړاوونه گاللی دی. دغسی ددغواتحادونو، ائتلافونو اوموقتی حکومتونو

په ۸ مخ

دنجيب رژيم دروسانو مزدور رژيم دی اوترڅو چې هغه نه وي نسکور شوی دافغانستان دقضيې هيڅ ډول حل منځ ته نه شي راتلای

الحاج حقاني

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

افغانانو ته داسې اتحاد پکاردی چې په هغه کې ټول مشران ، سیاست پوهان،جهادي قوتونه علماء ، قومي اوبادیانته روشنفکران برخه ولري

حقانی صاحب دامریکا غږ راډیو دخبریال دلومړی پوښتنی په ځواب کی دهیواد په بیلا بیلو سیمو کی دمجاهدینو دنویو بریو اوفتوحاتو په هکله وویل :

«مجاهدینو چی پدی وروستیو وختونو کی کومی سیمی فتحه کړي او کوم عملیات چی ترسره شوی دادهغی فیصلی مطابق دی چی په «شاه سلیم »کی دقوماندانانو شورا په غونډه کی ترسره شوی اوټولو قوماندانانو پرهغې لاسلیك کړی دی ، پدی غونډه کی فیصله داسی شوی وه، چی خوست اوخواجه غاربايد فتحه شی ، په غزنی اوکندهار کی باید عملیات پیل شی ، گردیز باید فتحه شی .»

حقانی صاحب وویل :

« لکه چی ټولو ولیدل مجاهدینو دهغی فیصلی په اساس ځینی ځایونه فتحه کړی اودځینو نورو دترلاسه کولو لپاره جگړه روانه ده ، له گردیز څخه دجنوب لویدیز دغزنی لوری ته ددښمن یوه قوه وتلی وه ، چی مجاهدینو پری حمله وکړه ددښمن له قواو څخه تقریباً ۱۵ یا شل ټانکونه او موټر له منځه لاړل ، یوه هلیکوپتر هم دمجاهدینو دډزو له امله وسوځیده ، اوقوه یی گردیز ته په شاتگ ته مجبوره کړه.

په گردیز باندی هم دلویدیز ، جنوب او ختیزی لوری نه جنگ روان دی خو تراوسه منظم جنگ چی پروگرام ولری ، ندی پیل شوی»

حقانی صاحب دهیواد په مختلفو سیمو کی دمجاهدینو دعملیاتو دنویو پروگرامونو او فتوحاتو په هکله دیوی پوښتنی په ځواب کی داسی وویل :

« مجاهدین دغزنی په ښاربانذی دجگړی تیاری نیسی اوډیر ژر به ښار له څلورو لوریونه محاصره شی،

په کندهار اوهرات کی هم جگړه روانه ده .

په حیرتانو ، بغلان اوکندز کی څو ځایه درژیم اکمالاتی لاری دمجاهدینو له خوا بندی شوی ، په سمنگانو کی ددښمن یو کنډك اوپه خواجه غار کی (۵۵ مه)فرقه مجاهدینو ته تسلیم شوی ده ، مجاهدینو ډیره وسله ترلاسه کړی اوله یونیم زرتنو څخه زیات ددښمن افراد یی چی جنرال شاه محمود هم پکی دی ژوندی نیولی.په ځینی نورو ځایونوهم دعملیاتو پروگرام شته چی اوس یی یادول لازم نه گڼم »

الحاج حقانی دملگرو ملتونو سازمان دخاص استازی « بیننند سیوان » دسولی دوړاندیزونو په هکله دمجاهدینو همیشنی موقف یو ځل بیا تکرار کړ ، او زیاته یی کړه :

« مجاهدینو دملگرو ملتونو دسازمان استازی ته په ډاگه وویل چی دنجیب رژیم دروس لاس کینولی او مزدور رژیم دی ، اوهغه زموږ دیو نیم ملیون هیوادوالو دشهادت اودپنځو میلیونو دمهاجرت اصلی عامل دی ، زموږ دهیواد بی شمیره کوروننه اوفصلونه یی تباه کړی دی نوترهغه وخته چی هغه موجود وی ،زموږ هیڅ ډول سیاسی حل منځ ته نشي راتلای. »

حقانی صاحب وویل :

په اووم مخ کي

مجاهدینو چي په دي وروستیو وختونوکي کومي سیمي فتحه کړي دادهغي فیصلي مطابق دي چي په «شاه سلیم » کي دقوماندانانو شورا په غونډه کي ترسره شوي

جلسه آینده شورای فرماندهان جهادی،امید ها وآرزوهای جدید

گفته می شود که گردهم ایی سوم شورای سرتاسری قوماندانان جهادی افغانستان عنقریب دایر گردیده وطی ان درارابطه به عملیات مسلحانه مجاهدین برجزوتام های رژیم کمونست کابل وفتح نمودن مناطق وشهرهای دارای اهمیت سوق الجیشی فیصله های بس مهم وارزنده صورت خواهد گرفت .

اگر بطور دقیق نظر اندازی شود این شورا توانسته است درمدت بسیار کم موفقیت های چشمگیرو خیلی ارزنده راطی جلسات گذشته خویش به مردم مسلمان وستمدیده کشور به ارمغان اورده است ، اتحاد واتفاق قوماندانان درسرتاسر کشور تاحدی صورت پذیرفته وبا عملیات متحدانه وهم اهنگ ضربات کوبنده یی رابر پیکر لرزان رژیم کمونست کابل وارد نموده است ، که از جمله فتح شهر ستراتیژیك خوست که بمثابه شاه رگ رژیم کابل شناخته شده بود وهم فتوحات ولسوالی ها درسمت شمال کشور مانند ولسوالی های خواجه غار ، دشت ارچی ینگی قلعه و ... وعملیات خوردکننده برقرارگاهای نظامی کندهار و... رامیتوان یاداوری کرد .

به یقین میتوان گفت که با ایجاد شورای سرتاسری قوماندانان جهادی افغانستان دشمنان جهاد دست وپاچه شده به تبلیغات سؤ علیه ان پرداخته تااگر بتوانند رخنه یی رادرصف ارایی فرماندهان جهادی وارد اورند .

اما فتوحات موفقانه وسریع اخیر مجاهدین که به ابتکار همین شورا نصیب ملت مسلمان افغانستان گردید ، نشان داد که با اتحاد وهمبستگی فرماندهان جهادی نه تنها رژیم نجیب حتی دشمنان اسلام درسراسر جهان نمیتوانند سدراه پیروزی های مجاهدین گردند .

جای تعجب است که درپهلوی دشمنان بعضی ازدوستان جهادی نیز برضد شورای سرتاسری ومانداتان جهادي افغانستان اقدام نموده بخواهند مجاهدین عملیات منظم ، مشترك وهم ی رابرای سرکوبی رژیم منفور کابل براه اندازد ن عمل شان را جفای بس بزرگ با جهاد ان می شماریم .

مستیم که به لطف ومرحمت الهی طبق وعده عظیم الشان به مسلمانان داده است ، با نیروهای جهادی درابنده قریب فتح مجاهدین گردیده وتمام دسایس وتوطئه منان اسلام نقش براب میگردد ، لهذا لسه اینده شورای سرتاسری جهادی شتیبانی قاطبه مردم افغانستان مثمر وارزنده یی رابجا گذارد .

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي وړانوونکې فعالیتونه

داکسا ، کام ،خاد ، واد - تشکیلات ،فعالیتونه او جنایات

عبدالوکیل

په ارگ باندې دکودتاچیانو الوتکو لخوا بمبارېو دوام وکړ اوداؤد دارگ قواؤ له طرفه به دهوايي دفاع په ډزو سره دکودتاچیانو الوتکې په سرو لمبو کې پټې شوې خوموثریت یې کم ؤ اوبمبارېو په شدت سره دوام پیداکړ .

ماښام په اوو بجو چې لړشانته باران هم اوریده دافغانستان راډیو څخه په پښتو اوفارسي ژبو داسلم وطنجار اوعبدالقادر لخوا دداؤد رژیم دسقوط اعلامیه ولوستل شوه اویاده یې کړله چې دیحیی کورنۍ دقدرت ټغر ورټول او داؤد دمقاومت اونه تسلیم کیدو په اساس وځپل شو اوسیاسي قدرت انقلابي نظامي شورا په لاس کې نیولی دی .

په همدې ورځ دقرغې اتمې فرقې ته دداؤد په طرفداری سره دارگ په لوري حرکت ورکړل شو خوکله چې دنوموړي فرقې قواوې دکابل «گردنه باغ بالا » ته راورسیدلې دخلق اوپرچم ډلو یې قومانده په لاس کې واخستله اوقواوې یې ارگ ته دتللو څخه منع او په «کارته پروان » او«کارته مامورین » کې یې دکودتاچیانو په ملاتړ موضع ونیوله .

دریشخوراوومه فرقه هم دداؤد په ملاتړ دارگ په طرف وخوځیده خو دهغو هوايي بمبارېو له امله چې دکودتاچیانو له خوا پرې وشوه دارگ په لوري یې دهغوی دحرکت مخنیوی وکړ.

ټوله شپه یعنې ۱۳۵۷/۲/۸ هـ ش دکابل ښار په مختلفو برخو کې دداؤد اوکودتاچیانو نظامي قواؤ ترمنځ جگړه روانه وه او دکابل ښاراکثریت اوسیدونکي دهوايي بمبارېو توپونو اوټانکونو او نورو وسلو دډزو له امله بیدار پاتې شول .

جگړې دوام وکړ او دورځې لخوا (دڅور اتمې نیټې) دیوې بجې پورې دریشخورو ، دارلامان اودکابل ښار په نورو برخو کې دداؤد پلوي قواؤ تعرض اودفاع ته دوام ورکړاودورځې په یوولسو بجو یې ددارلامان په سیمه کې دکودتاچیانو دوې جنگي الوتکې راوغورځولې خو دهمدغې ورځې دیوې بجې څخه وروسته دداؤد طرفدارو قواؤ مقاومت ختم اودکابل په ښارکې دکودتاچیانو قدرت ترسترگوکیده.

خوددې علت چې سره ددې چې دخلقیانو اوپرچمیانو نظامي څانگې په سازماني اوتشکیلاتي لحاظ دیو اوبل څخه جدا وې څنگه یې وکولی شول په کودتا کې دداؤد پرضد واحد او گډ عمل ترسره کړي داؤ چې «کي ، جي ، بي » دسفارت له لارې دخلق اوپرچم نظامي څانگو سره په جدااوگوښې ډول اړیکې درلودې اوددوی دواحد عمل قومانده اورهبري د«کي ، جي ، بي » په واسطه ترسره شوه.

داچې «امین » دروسانو سره دکودتا پلان یوځای جوړکړاوکه څنگه او روسانو په هغه کې مستقیمه برخه نه درلوده تراوسه پورې دقیق معلومات ندي ترلاسه شوي

اوم مخ کي

دکابل دمزدور رژیم ځنکندن ولې اوږد شو ؟

محمد زبیر «شفیقي»

له کومی ورځی راپه دې خوا چی له افغانستان ځخه دروس پوځونه بیرته په شاشول زموږ دمجاهد ملت اوشهادت پالو مجاهدینو پرخلاف دپروپاګند اوتبلیغ یوډیر زور ورموج په تهوله نړۍ کې راولاړ شوی دی .
دمجاهدینو پرضد له یوې خوا داسی تبلیغات په پراخه پیمانه کیږی چی ګواکی دوی دنجیب دګوډاګی رژیم له راپرځولو نه ناتوانه دي ، دغه پروپاګنډونه دځینو مانوروپه ترسره کولو سره په داسی مهارت په کارلویدلی چی واقعاً دنړیوالو په اذهانو کې دمجاهدینو دبری اوځواك په باب ذهنیتونه اندیښمن شول ، له بله پلوه دمجاهدینو دعملیاتو دتودولو په صورت کې دځینو استعماری نړیوالو محافلو له خوا پرمجاهدینو دعامه وژنو ، لوټ او ... تورونه هم ولګیدل اوداسی ډنډوری به په پوره شدت په ټول جهان کی خوری شوی چی مجاهدین دبشر حقوق تر پښو لاندی کوی له جګړه ایزو قوانینو نه سرغړونه کوی او ...
موږدامنو اوباید یی ومنو چی دروسانو له وتلو نه وروسته دهغوی ګوډاګی اومزدور رژیم باید په ډیره لنډه موده کی رانسکور شوی وای ، اوهغوی ته ترننه پوری دواکمنی فرصت نه وای ورکړشوی ، چی متأسفانه دغه دپردیو دلاس اله رژیم ترا اوسه پوری پاتی دی ، داچی ولی پاتی دی اوپه ځه حالت دی زموږ اوس په دی خبره کارنشته، دامنو چی باید نه وای پاتی شوی اواوس باید په افغانستان کی یو اسلامی حکومت جوړشوی وای ، دهیواد پر فضا دسولی اوارامی کوتری الوتلای اودجنګ جګړی ذاغان نورچانه لیدای .
خودایو ښکاره حقیقت دی چی دکابل له رژیم سره چی دروسی پوځونو تروتلو وروسته ځه شی کم شوی دی هغه یوازی روسی پوځونه دی ، نور کوم عوامل چی ددغه مزدور رژیم دپاتی کیدو سبب وو پرځای ځه لا

> **دافغانستان دمومن ملت دقربانیو د مطلوبي نتیجي په وړاندي خنډونه اوخند ونه دروس او لویدیځ دنژدي کیدو او تفاهم نتیجه ده**

چی قوی شوی او زیات شوی دی .
دکابل رژیم نن دسکاډ ، اوراګان اونورو مختلفو وسلو ذخیری لری چی استعمال یی اوس هم دروسی مشاورینو اوماهرینو په واک کی دی سربیره پردی له روسیی نه نیغ په نیغه زموږ پرهیواد اوولس هوایی برغلونه ترسره کوی .
له بله پلوه لویدیځ اوختیځ ښکیلاکګردافغانستان دربړی په اړه یوی نتیجی ته رسیدلی اوهغه داچی په هردول باید زموږ دهیواد دخلکو په خوښه دحکومت مخنیوی وکړی اوداسی یو ځوك دهیواد واګی په لاس کی واخلی چی ددواړو لوریو ګهی ګټهی خوندی کړای شی.
نور دافغانی غازیانو تش په نامه ملاتړ و له ډیرو ځیرو ځخه عملاً نقابونه لری شوی دی ، اوداېرالاشوه چی هغوی زموږ له مجاهد ملت سره دخپلو ګټهو اواهدافو لپاره مرسته کرله ، نور امریکا هغه امریکا نه ده چی په افغانستان کی له روس ځخه دویتنام دماتی بدل واخلی ، ځکه نه افغانان دویتنامیانو په ځیر له یوه استکباری قوت سره دجګړی په ترخ کی دبل ښکیلاك په لومو کی ننوتل غواړی اونه روس اوس دامریکا په مقابل کی دیوه خطرناك رقیب حیثیت لری ، روس که ځه هم استعماری نیتونه اوله امریکا سره درقابت روحیه لری خو زموږ دمجاهد ملت ګوزارخوړلی روس نور دپرونی انګلستان په ځیرد توتهی کیدو په حال کی دی اوبیدریغه اقتصادی اواجتماعی ستونزو دی ته اړ کړی چی لویدیځ ته کچکول په غاړه لاس په نامه ودریږی.
طاغوتی ځواکونه که هرڅومره هم خپلمنځی اختلافونه اوجنجالونه لری خوبیا هم له خپل واحد مشترك دښمن « مسلمانانو » ځخه سترګی نه شی پټهولای او ددوی رقابت اودښمنی داسی حدته نه ده رسیدلی چی مسلمانان له هغو نه ګټه پورته کړی .
له عربی هیوادونو سره داسرائیلوپرخلاف دروسیی بی وفا یی،دخلیج په جګړه کی له خپل پخوانی حریف اودوست هیواد ! « عراق » سره دهغوی ناځوانی او دافغان جهاد په اړه دامریکا منافقانه اودښمنانه دریځ زموږ دادعا ژوندی ثبوتونه دی .
همدغه دروس اوامریکا ګډ دریځ اوزموږ دېرمیال جهاد پرضد دتوطئو لړۍ ده چی ترننه پوری دنجیب دمزدور رژیم دپائیدو یو سبب دی .
موږ نه غواړووایو چی ګواکی دجهاد دعظمت اوبریالیتوب افتخار دنامطلوبو پروپاګندی حلقو په ځیر دامریکا اولویدیځ دمرستو محصول وبولو ځکه دروس ماته او په افغانستان کی دجهاد دحماسو وياړ او

اووم مخ کې

بهره برداري کامل سیاسي ونظامي ازفتح افتخار آفرین خوست درگرو وحدت وهماهنگي عملي قوت های جهادي کشور است

ربیع الله (شهامت مجددي)

خداوند کریم راسپاسگذاریم که بعد از گذشت قریب دوماه از فتح شهرستراتیژیکی خوست بدست توانمند جهادگران عزیز وشهادت شعارسرزمین مرد خیز پکتیا ، که لانه حسابی وسنگر مستحکم رژیم مزدور نجیب بحساب می امد وازعدم تسخیر ان نجیب ملحد بحدی مطمین بود که با مباهات میگفت اگر مجاهدین قادر بگرفتن خوست شدند من از مقام به اصطلاح ریاست جمهوری خویش استعفا میدهم یا بعبارت صریحترمن زمام امور کشور رابه انها میسپارم ، کدام سوء تفاهم یا احیانا حادثه ناگوار درادامه کنترول شهر مفتوحه خوست بین نیروهای جهادی فاتح این شهر پدید نیامده است .
هرچند بعد از گذشت فتح هنگامه انگیز خوست که ایادی وزمامداران رژیم پوشالی کابل را درسوگواری عمیق فروبرد ، مورال نیروهای اجیر رژیم مرتد را ضعیفتر ساخت وبه روحیات مجاهدین بیش از پیش قوت بخشید وهمچنان دل افروه مهاجرین را نشاط وشادمانی داد ، رسانه های تبلیغاتی غرب بتاسی از دنبال نمودن اغراض کفری وخصمانه خویش وغرض کاهش اثرات فتح خوست درجهت ضعیف ساختن مزید حکومت کمونست کابل ، قوت های فاتح جهادی رابه برخورد وخصومت درتقسیم غنائم خوست متهم نمودند ، اما نیروهای جهادی ظفرمند خوست این اتهام را غیر واقعیت خوانده وجدا تکذیب نمودند .
اکنون نیز دشمنان اسلام با کمال شیطانت درصدد عیب جویی مجاهدین اند تا درصورت بروز کدام واقعه نا مطلوب ویا تبارز اختلاف بین مجاهدین در مناطق فتح شده وخصوصا خوست ، مجاهدین را فاقد صلاحیت وکفایت اداره وکنترول مناطق تحت تسلط شان قلمداد کنند وچنانچه قبل از فتح خوست مجاهدین را فاقد توانایی فتح شهرهای مهم وبالاخره سرنگونی رژیم نجیب میخواندند وبرای ثبوت ادعای خویش به عدم فتح خوست وجلال اباد استشناد میکردند ، علی رغم فتوحات عمده مجاهدین وفتح تاریخی اخیر خوست که مظهر توانمندی کامل قوت های جهادی دراسقاط رژیم کابل است ، بازهم ازعدم قدرت نیروهای رزمی اسلامی کشور درسقوط دادن

> **باید نیروهاي متعهد اسلامي رزمي کشور در ساحه سیاسي ونظامي فعالیت خود راهماهنگ ومشترك بسازند تاباتمام قواي خویش بتوانند درمقابل توطئه ودسایس استعماریون مقابله کنند وتلاش هاي ظالمانه انها را خنثي نمایند .**

به حکومت متکی به روس نجیب سخن بگویند وبدینترتیب به تلاشهای مذبوحانه خویش ، دایر برحل سیاسی قضیه افغانستان نه نظامی که متضمن تحقق اهداف کفری شان ودسیسه است جهت جلوگیری ازتاسیس نظام اسلامی در افغانستان ادامه دهند .
درحالیکه اکثریت ملت مجاهدافغانستان وتنظیم های جهادی حقیقت تلاشهای کفار را درجهت حل سیاسی افغانستان که طی ان تظاهر به دلسوزی به اصطلاح بشردوستانه به ملت مومن افغانستان میکنند ، درك نموده وذهنیت دلبستگی به حل سیاسی افغانستان درنزد انها کاملا منفور است .
درچنین اوضاع وشرایط که استکبار روبه انقراض سرخ واستکبار سیاه که خود را مسلط براوضاع جهان میداند ، درپی عقیم ساختن فعالیت های سیاسی ونظامی رزمنده گان مومن افغانستان جهت استقرار نظام اسلامی در افغانستان برامده اند وبا همه امکانات خویش سعی دارند تا نظام سیکولرستی ولادینی راکه بر بعضی ازکشورهای اسلامی دیگر جهان تحمیل نموده اند وهم به سطح کشورهای شان وهم به سطح قضایای جهان برای نیل به اهداف استعماری خود پیوسته انها را استخدام مینمایند ، زیر پوشش حل سیاسی افغانستان طی توافق وتبانی همدیگر خویش بر ملت شهید پرور افغانستان که ۱۳ سال تمام تباهیها ، ویرانیها وقربانیهای بی نظیر درتاریخ بشررا جهت رهایی کشور خویش از سلطه کمونیزم متحمل شد تابه زندگی شرافتمند زیستن در سایه نظام اسلامی که نعم البدل قربانیهای بیش از یك دهه خویش ان را تلقی میکند ، نایل گردد ، بقبولانند باید نیروهای متعهد اسلامی رزمی کشور درساحه سیاسی ونظامی فعالیت خود را هماهنگ ومشترك بسازند تابا تمام قوای خویش بتوانند درمقابل توطئه ودسایس استعماریون مقابله کنند وتلاشهای ظالمانه انها را خنثی نمایند ، درغیراین صورت قوت های مومن جهادی ما بصورت تنهایی ازناکام ساختن دسایس استکبار جهانی عاجز خواهند بود وخواسته های ان خدا نخواسته برملت شهیم افغان دراثر تفرقه، اختلاف واحیانا خصومت نیروهای جهادی تحمیل خواهد گردید .
ازانجاکه فتح خوست تاثیر بسزای درتقویت مورال مجاهدین بجا گذاشته ، باعث تحرکات جدی درسنگرهای جهاد گردید وضربات سنگین نظامی

درصفحه ٦

جهادي ادب

ديوه کار عيش اونوش هوسراني وي
دبل کار مجاهده وي قرباني وي
دخطراتو نه هغه گله ويريږي
چې يې برخه دتاريخ قهرماني وي
مرحوم الفت

لنډۍ

جانانه ځه په گرديز جنگ دی
په اسلام ننگ دی په دښمن وکړه بريدونه
افغانان ټول په دين مين دي
ځکه روسانو نه يې ورك کړل گودرونه
افغان دنيا کې شهرت بيا موند
دمجاهدغيرتته ټول کړي سلامونه
اول غازي بيا مې شهيد کړې
زخمي مې مکړې دټپومې بدراځينه
بری به خودزموږ پخوا وي
چې دغزاميدان ته ټول راوتي يونه
په وطن پلورو غدارانو
وايي وطن اوکاڼي بوټي لعنتونه

پاڼې

لنډه کيسه

محمد عارف «تنگيار»

غوټۍ چې نن دکلي کومې نجلۍ وهلي وه په ژړا کې مورته وويل : ادي ! نوري پاڼې نه جاروکوم ، ځکه نکي مي هسي په هسي وهي اوکنځا راته کوي ....
موريې پرسرلاس ورتيرکړ اوښکي يې ورپاکي کړي . دلوربراوجړ ويښتانو چې له خاورو ،گردوني يې توررنگ په خړيدل شوي وُ ، دزړه دنيا هسي سپيره کړه چې سيلي اوطوفانونه پکي راوالوتل او بيا ديوه اوږده اسويلي په شکل يې له خولي ووت ، په وچو سترگو کې يې اوښکي راډنډ شوي خوږړبي لاحوله کړه اولورته يې وويل : چې پاڼې جارونه کړې ، سوځو به څه ؟ اوډوډۍ به په څه پخوو ؟
زما اوستا څوك دي چې راته رايي وړي . خيردي له چاسره خوله مه خوځوه اومه دچاپه کنځاووپسي گرځه ،خداي مهربانه دي داتياري به راته رڼاکړي . دموريه خبرو دوړي غوټۍ په واړه ذهن کې ډيري پوښتني راټاوشوي خودپلار اوورور پوښتنو يې دوچو شونډو سپيره دروازه خلاصه کړه اومورته يې وويل : لالا مي ولي روسانو شهيد کړ؟ اوولي مي ورور بندي دي ؟ که هغوي اوس وا ي موږ به هم لرگي اخيستل ! ښه کوربه مونيولي واي . پرون مي چې په تاون کي په هغه يوه کورکي پاڼې جاروکولي لوريي بي ښه بي بده ووهلم.

دغوټۍ پوښتنو دمور ټول هيريادونه ورياد کړل اوپر، پرهارونو يې مالگي وروددوړولي .
هغه ورځ چې روسانو يې ميړه په کلاشينکوف غلبيل ، غلبيل کړ اوبيايي پري خندل هم اوهغه شتنکي وهلي ...
اوزوي يې چې دهجرت په لاره په کمين کي گير شوي وُ اودغوروحشيانو په تپي ځان په ټانگ پسي تړلي اوکش کړي وُ اودايي دراتلو په تمه ناسته وه ، اواوس چې په چارپيره کوررنو کي رنگا رنگ خواږه پخيږي اوبوبونه يې ددوي سپږمي تخنوي ، خودوي دواړه «موراولور» وچې ډوډۍ ته ناستي وي او ... بيايي دمشرانو هغه کيسي وريادشوي چې دبيبيانو په باب يې ورته کړي وي ، په زړه کي يې تيره کړه چې هغوي خوارانو گران اسلام لپاره له مونږه هم زيات کړاوونه تيرکړل اوصبريې پري وکړ ، نوچي هغوي داسي کول مونږ خوپي دپښو دخاورو په حساب هم نه راځو ، نوولي به اوس ناشکري کوو . بيايي داټولي دشيطان کافر وسوسي وگڼلي اوله ځانه سره يې وُويل :
شيطانه په لعنت شي ، توبه خدايه اتوبه مي دي وي .
اجريي په خواږه ايمان راکړي خداي مني دي هغه زوي روغ لري اوخداي (ج) مي دډيدن ورسره وکړي دژوند .
زړه يې ډاډه غوندي شو ، لورته يې وويل : لورکۍ پدي خبرو پسي مه گرځه ، يواځي دعا ورته کوه . کافران وو له کفارو څه گيله ده ، هغوي يوازي ستا لالا نه چې په زرگونو داسي لالاگان برناحقه شهيدان کړل .
دهغوي گناه يواځې اسلام ؤ ، خوته لاوړه يې پدي سرمه خوږوه . ځه ورشه بوجۍ اوجارو دي واخله چې ناوخته کيږي ، خوگوره لوري ! چې دچاله کوره څه درسره راوانخلي چې دپلار شهادت به دي خراب شي .
غوټۍ غوښتل چې له مورسره نن پوره دزړه خواله وکړي اوداسي يوه لار پيدا کړي چې له پاڼو جاروکولو پري خلاصه شي ، خومور نوره دي ته پري نه ښوده اوچي پوه شوه ريښتيا هم ناوخته کيږي اونه چې ترڅو داورځۍ پاڼي بل چاجارو کړې وي ، پورته شوه لاړه خپله زړه بوجۍ کې يې سوليدلي جارو واچوله اووخوځيده .
شليدلي گريوان ، ببر سر اوتور وچ وچ لاسونه دهغې دستړي ، سرگردانه اوحيرانه وجود ښکاره نښني وي ، دهغې ټول فکر اوهوش يواځې دښواوډيرو پاڼو په پيداکولو کې په کار لويدلي ؤ اوپدي کارکي يې حتې رقابتونه هم په غاړه اخستي وو . له کمپ نه تراوانه به چې داله کومو لارو سړکونو اوکوڅو نه تيريدله نوټول پام به يې پاڼوته ؤ. نه يې موټرو ته کتل اونه يې دکانونوته .
دهيڅ شي هوس ورسره نه ؤ خوپواځيني هيله يې داوه چې چيرته ښني ډيري پاڼې ومومي اوتر هرڅا ښه غټ پنډ يوسي ، نوځکه به يې چې په لاري چيرته څه پاڼې وليدي له ځانه سره به يې وويل چې دابه هم له هغې خواراسره جارو کړم ، بيابه يې شااوخوا وکتل ترڅو کومې بلې نجلۍ ليدلي نه وي،بوجۍ يې شاته واچوله اوپه ارتو گامونو وخوځيده . نن يې پرلاره هم پاڼي کتلي اوهم يې دپلار اوورور په باب ډول ډول سوچونه کول ، خودرقيبونجونکو ويري يې په ژوند کې لابله له غم اولنديښنو ډکي راتلونکي په مخ کي دخوښيو اوماشومتوب هيلي مړاوي کړي وي .
دهغې چې کاروبار ټول په ښار اودښاريا په کوموکورونو اوقصرونو کي ؤ، ورځ له ورځې يې دخپل اودغه ژوند دمقايسي غمونه سيواکول اوورځ له ورځې يې دپلار او ورور نشتوالې احساساوه .
نن هغه په چورتونو اوخيالونو کي تپاون ته ورسيده له څوکورونو اودسرکونو له څنډوې پاڼې جارو کړې ، بيا دهغه لوي

پنځم مخ کي

دافغان وياړ

توريالی ځاځی

دپکتيا دننگياليو له « جلاله »
دوطن دازادۍ ډيوې بليږي
ددښمن دملاتير مات ټوټې ټوټې شو
چې دفتحو تاريخونه ليکل کيږي
***
ستاله توري صدقه «ددين جلاله »
چې دسرو لښکري ماتې شوې پکتيا کې
آفرين دې په عظمت په اوتدبير شه
شرنگ دتوري دې ځپور شوی په دنيا کې
***
تاچې پل دميړنو په قدم کيښود
په تاريخ کې به دلمر په شان ځليږي
دافغان دوياړ جلال يې اې « جلاله »!
ټول ولس دې په نامه باندې نازيږي
***
ملامې کړوپه ، په پښو شل روغتون کې پروت يم
داڅه ژوند دی ؟ چې په ماباندې تيريږي
کاش ! دخوست په سرو ټکرو کې وای ماتی
نه ، چې دلته له ډير غم ځنی فلجيږي
۱۳۷۰ لمريز کال دثور ۲۸
پيښور ، دکويټ دهلال احمر روغتون

ډيرشانې ځيږي

لنډه کيسه

سيد شهريار

دي په همدي ساعت دکوچني اخترلمانځه څخه فارغ شوي دي اوپخپله ديره کي دخپلو ميلمنو سره يو ځاي په خوښيو اوخوشحاليو کي ډوب ناست دي نه غم شته اونه خپگان !! شيبه په شيبه دشين چايو پيالي څښل کيږي دشنو نصوارو کپي اچول کيږي اويخي اوتازه وږمي لگيږي .
دااختر له غبرگو خوشحاليو سره راغلي ځکه په ټوله ځکه شين بخملي څادر غوړيدلي . اودپسرلي خوږې او تازه وږمې ستړيو شويو مغزو ته دارام اوسکون په توپاني څپو کي غوټي ورکوي ، لمر هم دخپلو زرينو وړانگو سره يو ځاي له ډيره غروره په غر غرو دي دده زريني پلوشي شنو او تازه بوټوته يو بيل ښايست او ښکلاوربخښي.
په ټولو خلکوباندي پرله پسي خوشحالي را رواني دي پرون هيواد ازاد شوي نن دکوچني اختر نيکمرغه ورځ ده اوسبا ته دنوروز ورځ دخپلو ميلو اوچړچو سره يو ځاي دازادۍ دناوي هرکلي کوي:
هري خواته جوړي جوړي خلك دي چې په لارو اوکوڅو کي تگ راتگ کوي اودخپلو خپلوانو سره په دي غبرگو خوشحاليو کي ځانونه شريکوي .
دبازمحمد کاکا مخي ته خپل دوه زلمي زامن اوړي رااوړي اوچارچاپيره تري خپل خپلوان ناست دي په هيواد کي اسلامي حکومت جوړشوي ټولي ويراني په ابادۍ بدلي شوي اودسوزيدلو اولمبه شويو فصلونو په کمزورو اونازکو بدنو کي له سره تازه ويني اونوي روح موجونه پيل کړي .
بازمحمد کاکا په خبرو خبرو کي دديري ناستو کسانو ته مخ راواړاوه :داختر مبارکي موخو سره وکړي اوس مو خوښه نه ده چې په نننۍ بختوره ورځ په گډه سره دي وړاندي هديري ته ورشو او هغو شهيدانو ته سلامونه وکړو په قبرويي دسرو گلانو گيډۍ وغوړوو ، دوعاوي ورته وکړو ، او زيري پري وکړو چې داهم ستاسي دزړورتوب،سرښندنو،قربانيو او دپاکو وينو برکت دي چې موږبيا خپل پلرني هيواد ته راغلو اوپاکه خاوره موله سرو کافروڅخه ازاده شوه . نن په موږ ډيره زياته خوشحالي ده خوداخوشحالي اوخوښي هم زموږ نيمگړي ده ځکه چې ستاسي نشتوالي دخوشحالۍ په دي ورځو کي له موږسره موږ ته يوځل بيا ستاسي دشهادت تيريادونه راتازه کوي ستاسي قرباني رايادوي اودسرو کافرو دوحشته ډك ظلمونه :
زه خو پوهيږم چې ددوي دپلرو ميندو ورونو اواولادو په زړونو څه تيريږي ؟

پنځم مخ کي

فتح تاريخي خوست وماتم نجيب

عبدالحفيظ حامد عزيزي

ازادی خوست ازنقش قدم وطن فروشان باردیگر این حقیقت رابرملاساخت که ملت مجاهد وازاده افغانستان برای رسیدن به هدف نهایی که همانا ارمان شهدا وکافه ملت (تشکیل حکومت اسلامی می باشد) مصمم وقاطع استاده است باوجودیکه دشمنان ازهیچ دسیسه ای جهت جلوگیری ازرسیدن به این ارمان مقدس دریغ نکردند ولی به لطف خداوند وقربانی بی دریغ فرزندان این خطه پاکبازان توطئه ها کارگر نافتاد وهرروز شاهد فداکاری وحماسه تازه درگوشه وکنار میهن اسلامی توسط پاسداران اسلام ووطن هستیم ، به هرصورت فتح خوست وعلمیات هم اهنگ مجاهدین تمام محاسبات رژیم وحامیان بین المللی ان ها را نقش براب نموده به اصطلاح بن بستی راکه رژیم درسایه ان تنفس می نمود به نفع کامل مجاهدین درهم شکست که بااین فتح تاریخی قصر نجیب را به لرزه دراورد وانقدر نجیب متاثر شد که از شدت تاثر ان یاین روز را ماتم ملی اعلان نمود چراکه وی خوست را یک سنگرشکست ناپذیر می دانست پس وقتی خوست فتح شد برای نجیب بیش از ین چه امیدی باقی ماندبدین ترتیب گفته می توانیم که فتح خوست رامی توان ازچند جهت مورد ارزیابی قرار داد اولا اینکه از نظر بافت اجتماعی وقبیلوی مردم دره خوست روابط طولانی ونزدیک با سران رژیم کمونست کابل داشتند که تعداد زیاد ان ها چه در اردو وچه هم دردستگاه های غیر نظامی رژیم کابل سمت های مهم را عهده دارمی باشند که ازجمله نجیب رئیس رژیم فعلی رامی توان نام برد این موضوع نقطه بارز وقابل اهمیت برای رژیم محسوب می گردید لذا حمایت واکمال ازنیروهای شش هزار نفری رژیم درخوست به مصابه ادامه حیات رژیم درسمت جنوبی کشور خاصتا سرحد طولانی با پاکستان به حساب می رفت وسقوط ان خلای غیر قابل تلافی وجبران برای رژیم می باشد وثانیا بعد از جنگ جلال اباد درسال گذشته وتبلیغات دامنه دار رژیم مبنی بر توانایی ادامه جنگ وامرار حیات بدون حضورنیروهای روسی مورال ضعیف ودرحال اضمحلال ملیشه های دولتی جان تقریبا تازه گرفت وبا جهالت وسرتمبگی بیشتر درمقابل مجاهدین به مقاومت پرداختند فتح خوست این مورال تصنعی وموقتی رابه پائین حد ممکن رسانید تاجائیکه بعد از یکی دوروز مقاومت ملیشه ها درخوست ومشاهده عزم راسخ وخلل ناپذیر مجاهدین ان ها دسته دسته خود رابه مجاهدین تسلیم می نمودند فقط تعداد اندکی ازانها که برجهالت شان اصرار می ورزیدند به هلاکت رسیده ویابه دست مجاهدین اسیر گردیدند وثالثا درسال های اخیر برای نخستین بار مجاهدین تنظیم های مختلف با هماهنگی ووحدت کم نظیر درهم جمع شده پلان ازاد سازی خوست را طرح نمودند فتح خوست نشان داد که کلید پیروزی برقوای معنویات باخته واجیر رژیم درچه نهفته است ؟ که بدون تردید تجربه خوست گنجینه خوب نظامی برای تطبیق پلان های اینده وازاد سازی سایر مناطق اشغال شده ازتسلط رژیم می باشد فتح خوست زنگ هوشدار برای عطف توجه جهانیان ودوستان مجاهدین می باشد که با تبلیغات فریبنده وصحنه سازی های کاذب روس ها ورژیم دست نشانده ان ها برداشت شان ازمجاهدین دچار اشتباه گردیده بودند تا دیرنه شده درتفکر وموقف گیری شان تجدید نظر نمایند وبا ملتی که حدود یک ونیم ملیون شهید برای ازادی عطیه کرده

درصفحه ۷

فتح خوست وعملیات هم اهنگ مجاهدین تمام محاسبات رژیم وحامیان بین المللي انها را نقش برآب نموده به اصطلاح بن بستي راكه رژیم درسایه آن تنفس مي نمود به نفع كامل مجاهدین درهم شكست.

پانـــــې ...

کور په خوا وروخوځیده چې بنې غتې اوګورې ونې پکې ولاړې وې . دروازې ته یې ورغله اوچې وېې کتل دروازه بنده وه ، دپاڼو حرص مجبوره کړه چې له دیواله واوړي اودغه ډېرې پاڼې جاروکړي . اخوادیخوا یې وکتل اوغلې ،غلې په دیوال واوښته . ژر ژر په پاڼو جارو کولو لګیا شوه چې پدې کې دکورښتن له کومه ځایه ولیدله . په غوسه کې یې مالي ته وویل : داجینې چاراتنویستلې ؟ مالي چې نجلۍ ولیده وارخطا شو اوپه بنده ژبه یې ځواب ورکړ : دا ... جې دا ...!

خپله راغلې ګیټ بنددي ، شاید په دیوال رااوښتې وي ، دسړي سترګې برګې ،برګې راوختې اونجلۍ ته یې وویل : داته په کومه راغلې ؟ دنجلۍ واڼې وتښتیدې رنګ یې تک ژېړواوښت ځواب یې ورکړ ، زه ... په دیوال رااوښتم له دې خبرې سره سړي یوه درنده اوبې رحمه څپېړه په مخ ورکړه او ورته وېې ویل :

خواره شې په داسپیره مخ ! دتاسو مهاجرو له لاسه خومو ،اورواخیست اوله متې یې ونیوله اوپه کشولو یې له دروازې رابهرکړه .

دغوټۍ په سپیره مخ غبرګې اوښکې راروانې وې اولنډې ، لنډې سلګې یې وهلې ، پنډیې وتاړه او په ژړا راروانه شوه ، ترکمپه پورې یې سلګۍ وهلې اوپوزه یې سونېوله .دکور په کوڅه ور روانه وه چې څو نجونو پرې حمله وکړه اویو بل ته یې ویل : پنډیې وغورځوي هلې مه یې پرېږدي ...!

پنډیې له لاسه خوشې شو او پاڼې یې یو خوابل خوا خوري وري شوې ، نجونو په منځ کې راګیره کړې وه ، هرې یوې ترې ښه درانده ډېرونه ایستل ، غوټۍ به دوهلو په منځ کې خپلو ټیټو او خورو پاڼو ته وکتل ، غوسه به یې نوره هم زیاته شوه ، یوې ته به یې پنجه وروا چوله او لږ دریغه به یې شکارې کړه.

اخر یو ځوان راغې او غوټۍ یې له دغو جنګیره نجونونه خلاصه کړه غوټۍ یوه ښه شیبه پاڼو ته ودریده ، په سلګیو، سلګیو کې به یې یو ځل پاڼواو بیا دجونکو په خوا وکتل خداې (ج) خبرچې په زړه به یې څه تیریدل ، خوله کتلو یې داسې ښکاریده لکه چې نور داارت جهان ورته ګورجورشوي اودسبا راتلو یې په نظر نه ورځي ، په سلګیو کې یې یوه په زوره خندا وکړه په ملابانډې قات شوه ، بیا یې سر دمخکې په خوا ځوړند کړ اخوا ، دیخوابې وکتل په زوره یې وخندل اومنډه یې کړه پاڼې ، پاڼې ...! هه ، هه ... دکور دروازې ته چې ورسیده مورته یې ناري کړي : موري ! پاڼې ...پاڼې اوبیا یې ورسره په کړس ، کړس وخندل ... موریې حیرانه شوه ورته وېې ویل : ولې ؟ څه دي ؟ پاڼې دڅه کړي ؟ څه لیونۍ شوې یې که څه ؟! غوټۍ بیا ورته وخندل پاڼې ...پاڼې اوېدې کې یې دخندا په منځ منځ کې اوښکې په مخ راغلې اوچیغه یې کړه : پاڼې ...پاڼې ... اوبیا یې په کړس ، کړس وخندل ،ددې پدې خندا او ژړاګاونډیان دهغې سیل ته راټول شوي وواوټولو ویل چې غوټۍ لیونۍ شوې .

ډېریشانی څپې ...

دناستو خلکو لخوا ورته په یوه خوله ځواب ورکول کیږي ولې نه داته لاڅه زوروړسړي یې داڅوک دي ؟ دکوم ځاي دي ؟ دوي خو هم زموږ اوستاسې ورونه،پلرونه اولادونه،خپل اوخپلوان دي ځي چې ځو بسم الله کړی ، دوي چې په یوه خوله دهدیرې پلوحرکت کوي نودپریشانې په څپوکې یې خیالات اوتصورات یوځل بیا ددردونکو حوادثو سره سراوتندې جنګوي !

داویر اوژړا نوره بس کړې مه یې ښوروې پرېږدې دابیچاره لیږې سترګې یې پټې شویدې که لږ ارام وکړي نودیر به ښه وي داڅوومه شپه ده چې سترګه یې نه ده پټه کړې !

پدې خبرو خبرو کې د ژړاګانو ساندې زور اخلې او دژړا اوانګولاپدغو څپو کې زړه دردونکې غږونه پورته کیږي واي خدایه ... داکونډې ... دایتیمان ...دابې وسې اودا... پردې وطن ...له مخې لرې شې دګل باز شهید تابوت یې هم راوړ پدغو سوواولړزونکو چیغو کې بازمحمد کاکا له خوبه راویښیرې دلیونو په څیر په برندو برندو سترګو پخپله خواوشا نظرا چوي ، نه دیره شته ، نه زامن شته نه خپلوان شته ، نه کوراو نه هیواد ، نه قبرونه اونه هدیرې ، نه ښکلا شته ، نه نو روز شته ، نه خوښې شته اونه اختر !! بس دکیمپ سپیره دشته ده اودخړو خیمو بې حسابه کتارونه ، اوس دکور په منځ کې دیوه تابوت پرځاې دوه تابوتونه پراته دي چې ورو اوزړو له هرې خوانه محاصره کړې بازمحمد کاکااوس دفکرونو په سمندر کې غوټې وهې.دې همدغو چورتونو په مخه کړې چې زه به شاید ویده یم دازه به خوب وینم زه خولږه شیبه مخکې ... دالکه چې زما دپریشانی څپې دې ده ته نو اوس خوب حقیقت اوویښه اوحقیقت خوب ښکاره کیده اخوپه لږه شیبه کې دده دزړه څړیکې دومره زور اخلې چې بې واکه له خپله ځایه راپاڅیږي دیوه تابوت خواته چې ورځي پوهیږي چې داخوب نه بلکه حقیقت دي ځکه بیګاه ماخوستن یې دمحمود الدین تابوت راوړي ؤ خوچې داورېم څوک دي ؟

نور نو دده په سترګو کې اوښکې وچې شویدې تولې اوښکې یې بیګاه شپه دخپل اول ځوي په شهادت تویې کړي دده سترګو نور داوښکو تویولوتوان نه درلود مجاهدینو دې لدینه نه ؤ خبرکړي چې دده کشر ځوي هم تپې شویدې،دې یې له دې خبرې نه ناخبره ساتلې ؤ چاهم داجرات نشو کولاي چې بازمحمد کاکا دې دیوه بچې دشهادت اودبل دلګیدو نه خبرکړي ! خوپه زخمي غریب کې څه ؤ په هغه کې خوساه فقط دهمدې لپاره پاتې وه چې دخپل غمخور پلار ، زړه سواندې مور ، دپښتنې میرمنې اودخپل یتیم بچي دیدنونه وکړي خوافسوس چې دهغه ژبې کار له لاسه ورکړي ؤ هغه دخپل زړه دغه ارزو خپلو ملګرو ته ښکاره نشوه کړاي اودغه ارمان یې له ځانه سره ګور ته یووړ ، دهغه په زړه کې ډیر څه ؤ خو هیڅ هم نه ؤ ځکه چې پټ په پټه پاتې شو.

تابوت ته په وررسیدو بازمحمد کاکا دیوې بلې غمژنې پیښې سره مخامخ کیږي هغه جرات نشي کولاي چې دتابوت سرخلاص کړي ځکه دواړه تورسرې کونډې انګیندې اودوه کوچنې یتیمان لسې دهغه پورې کلک نښتې وو پده کې دځان دخلاصې توان نه ؤ په مخامخ کټ کې ددووشهیدانو سپین سري مور ډیره بې تابه له ځانه اوله دنیا نه ناخبره غورځیدلې هغې ځان په مړو شمیرلې اوله دغو غمونو څخه سترګې پټول غواړي ، هغه پدغې بې حالې کې الله تعالې ته په همدې زارو لګیا ده ،خدایه ما واخله ، ماته مرګ راوله ، زه به نو تر څو ژوندۍ یم زما دوه زلمي زامن به په دې پردې وطن اوپردو خلکو کې تورو خاورو ته کوزیږي اوزه به لاژوندۍ یم ... دشهیدانو دواړه کونډې هم په همدې کشمکش کې دخپل حال او مستقبل سره لاس په ګریوان دي هغوي ته دنورو کونډو بده ورځ ډیره ښه معلومه ده هغوي په همدې کمپ کې دنورو کونډو اویتیمانو دحاله ښې خبرې دي خوڅه وکړي ځان خو په زوره نشي وژلاي اونه مرګ ددوي په لاس کې دي.بس په همدې تکې زړه ته تسلې ورکوي او په نورو خلکوباړغواړي ځکه چې دوي دشهیدانو میرمنې دي ددوي باید قدر او عزت وشي ځکه ددوي خاوندان خوچیرته دبدیو اویادناروغیو په بستر ندي مړه شوي هغوي خو خداې پاك (ج) ددین لپاره او دوطن دازادۍ لپاره دغازیانو اوشهیدانو په لار تللي ، هغوي ژوندي دي ، هغوي بریالي دي ځکه هغوي دننګ په لار تللي هغوي توتې توتې راغلي ... هغوي ته خو همدغه افتخار ښکاره کیده چې:

توټې ، توټې په تورو راشي

دبې ننګۍ اواز دې رامه شه مینه

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ؟

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې

دعوض الدین صدیقي زباره

یوه روسی پوځی کله چې څه موده دمخه افغانستان څخه بیرته خپل کور ته ستون شو هلته یې یوه مفصله مرکه وکړه دهغه دمرکې کست په یو ډول چاغلا کړ او بیا د بالتیك بحیری له لاری لویدیځی نړی ته ورسید ه کست هلته یو ه غو غا راپورته کړه موږ دهغه روسی پوځی مرکه د «ملډ ستیټ » څخه په مننی دلته خپروو.

پوښتنه : آیا تاسوته دافغانی چریکانو پر ضد عملیاتو کې دبرخی اخیستنی موقع په لاس درتله ؟

ځواب : حقیقت دادی چې هلته به زموږ د پوځ حالت ډیر خراب ؤ ددې خبری کول گرانه ده چې وطن پرست کوم دي هغه چې دخپل هیواد ددښمنانو او یرغلگرانو پر ضد جنگیږی او تروروستان کوم هغه چې زموږ جنگی بندیان شکنجه کوی او زوروی هلته داسی سیمی هم وی چې زموږ ورتگ ممکن نه ؤ ځکه چې هلته به دباغیانو !! شمیر ډیر زیات ؤ او دهغوی سره به دوسلی هم څه کمی نه ؤ خو زه داخبره بی ویره کوم چې زموږ دعملیاتو ساحی ډیری محدودې وی ددې وجه داوه چې دآزادی دلاری مجاهدینو جگړی ډیری زیاتی او شدیدی وی کوم چې زموږ پر خلاف دخپلی آزادی لپاره جنگیدل .

پوښتنه : تاسو هغوی د آزادی د لاری جنگیالی ویلل ؟

ځواب : زه چې هلته وم هیڅکله می داخبره نه ده کړی داسی ویل دخطره ډك ؤ ځکه چې موږ به پر یوبل باور نه درلو د موږ ددې خبری دمنلو جرئت هم نشوکولی چې ووایو هغوی دآزادی لپاره جنگیږی هغه وخت موږ پخپله څه ؤ ؟ خو اوس چې ز ه کورته راستون شوی یم زه په پوره باور سره پردې اعتراف کوم چې هغوی د آزادی دلارې جنگیالی دي .

پوښتنه : تاسو دافغانستان داشغالولو په باب څه نظر لری ؟ تاسو چې د یوه روسی پوځی په حیث هلته موجودوی خپل حالت مو څه ډول ارزیابی کاوه ؟

ځواب : داډیره سخته پوښتنه ده په افغانستان کی زموږ حالت دخپگان وړ ؤ هلته موږ دداسی مسایلو په باب بیخی فکر نه کاوه او نه مو کولی شو.هلته زموږ فکر غلط ؤ خو اوس زه پوهیږم چې موږ یرغلگران ؤ او

په تیرپسې :

پردی باوروهم لرم .

پوښتنه : آیا روسی پوځ هلته یواځنی قوت دی ؟ او هم داچې دافغانی پوځ په باب تاسو څه نظر لری؟

ځواب : ترکومه ځایه چې مالیدلی اکثر ه یا به سپین ږیری خلك او یا جاهل او نامعلوم افراد ، موږ به اکثره د « دوستانه گډو عملیاتو »تر نامه لاندی یو ځای راتولیدو ددی مطلب داؤ چې یو څه غیر مؤثر ، کمزوری او ضعیف النفسه خلك به موږ ته د زده کړی په خاطر راتلل هغوی به موږ سره اوسیدل او په جگړی کی ډیر کمزوری ؤ دهغوی کار موږ ته خپگان پیداکولو او بس ډیر بی ځایه جذباتی او ساده خلك ؤ موږ به چی کله دهغوی څخه دڅه دندی داجرا کولو په خاطر موټرو غوښت دهغوی ملیشایی قواوی به هم موجودې وی دهغوی اکثره به سپین ږیری خلك ؤ خینو به د « دادجان »په شان سپینی پگړی له سره تاو کړی وی ، ماته معلومه نشوه چې اخرداڅه ډول پوځ دی ؟

پوښتنه : ددی سربیره تاسو څه وکړل ؟ آیاتاسو دافغانانو ژوند له نږدی څخه ولید ؟

ځواب : یوځل زه د روسی جیالوجستانو سره یوځای شوم روسی انجنیران دمعدنیاتو پرپلټونو باندی بوخت ؤ او موږ دهغوی امنیت نیولی ؤ په همدی ډول به موږ دافغانانو دتیلو دټانکر و اودغلی ډکو موټرو امنیت هم ساته ماولیدل چې افغانی بزگرانو به ددولتی مامورینو څخه سخته کرکه کوله دولتی مامورین دخپلو کالیو او یونیفارم څخه هم پیژ ندلی کیدل په کلیو کی د اوسیدونکو بزگرانو خاصه نښه دهغوی غټ غټ څادر ؤ په عام ډول دا څادرد نصواری رنگه سنیو څخه جوړ یږی داخلك شپه او ورځ څادر جوړوی ددی کمپلو څخه کله دقالینی استفاده هم کو ی او کله هم دمیز ددست پاك په ډول او کله دسرك پر سر باندی د خرڅولو ساماڼ پری ږدی په همدی څادرو کی دوی ویده کیږی او پر هغوی لمونځ هم کوی دولتی مامورینو داډول ژوند ترک کړی او په خپلو خلکو کی پردی شوی

پوښتنه : دولتی مامورینو دروسی پوځ سره څه ډول برخورد کاوه ؟

ځواب : زموږ اړیکی دهغوی سره ډیری کمی وی زما خپل نظر ؤ چې هغوی موږ دیو ساتو نکی قوت په ډول وگوری هغوی هیڅکله زموږ سره بد برخورد ندی کړی ښایی دادی لپاره چې هغوی پوهیدلی چې زموږ پرته هغوی زیات عمر نشی کولی .

پوښتنه : آ یا تاسو باغی !! جگړه مارلیدلی ؟ هغوی څه ډول وسله استعمالوله ؟

ځواب : دمجاهدینو سره پخوانی ډوله وسله هم شته او نوی ډوله روسی کلاشینکوفونه او درندی ماشینگنی هم .

پوښتنه : هغوی کلاشنکوف څه ډول لاس ته راوړی ؟

ځواب : هغوی زموږ پرمرکزونو حملی کړی او زموږ دملگرو تروژلو وروسته یی وسلی تری اخیستی ، څه وسلی هغوی له بزگرانو اخیستی ، ددوی زیاتره وسله زموږ وسله وه ، افغانی پوځیانو به دا وسله دخوراکی اونورو شیانو په بدل کی خرڅوله ، زموږ ملگرو به هم دوسلی دخرڅولو کاراوبارکاوه په دی خاطر دجگړی په دوران کی دابهانه کول اسان کار وچی وسله په فلانی ځای کی له دی وجی له منځه لاړه .

نور بیا

> زه داخبره بې ویرې کوم چې زموږ دعملیاتو ساحې ډیرې محدودې وې ددې وجه داوه چې دازادي دلارې دمجاهدینو دجگړې ډیرې زیاتې اوشدیدې وې کوم چې زموږ پرخلاف دخپلې ازادي دپاره جنگیدل

بهره برداري كامل سياسي ونظامي ازفتح افتخار ...

وسپاسی رابر پیکر پوسیده ولرزان نجیب وارد اورده است وره‌گشای فتوحات عمده بعدی مجاهدین شده میتواند ، با اینکه وسایل ارتباط جمعی غرب اعتراف چندانی نکرده واین فتح مهم راکه قبلا خود انها نیز به اهمیت ان قائل بودند، کم اهمیت جلوه دادند اما انها را نباید واقعیت نگرو دوست خویش پنداشت .

ولی بهره برداری سیاسی ونظامی کامل ازفتح خوست موقوف به وحدت ویکپارچگی عملی مجاهدین دراجرای عملیات شان بالای مراکز و تاسیسات نظامی رژیم روبه زوال نجیب است .

به این واقعیت همه افراد با بصیرت ملت مجاهد ما وحتی عامه مردم مسلمان ما معترفند که یگانه عامل موفقیت مجاهدین درخوست وحدت وتشریك مساعی انها بود واین حقیقت راباید سنگرداران شیفته اسلام ما برای رسیدن به فتوحات بعدی سرمشق خویش قرار دهند وباهمه تاکید واطمینان میتوان گفت که مستحکمترین سنگر دشمن ملحد طی عملیات متحدانه مجاهدین به سهولت فتح میگردد ، چنانچه درخوست چنین شد .

زمامدار ملحد رژیم کمونست کابل جهت فرونشاندن هنگامه شکست ذلتبار وسرسام اورخویش در خوست به اقدامات جنون امیز خویش بعد از گذشت سه هفته از فتح خوست طی فیر شصت فیر مرمی سکد بالای اهالی غیر نظامی خوست وچهار بار حمله میزایل بلاستیك که روسها ان را بخاطر ویرانی امریکا تولید نموده بودند وظرفیت شعله ورساختن اتش معادل دوهزار لیتر تیل پطرول را دارد واخیرا به تحویل این میزایل تباهکن مزدوران سرسپرده خود را مورد نوازش قرار داده اند بالای اسعد اباد مرکز کنر ، صدها تن از هموطنان مسلمان مارا بخاك وخون کشانید وفاجعه روان سوزدیگری را بر صد ها فجایع گذشته خویش افزود-همچنان نجیب ملحد درحالیکه درسراسر کشور تاسیسات نظامی اش یا درمحاصره مجاهدین قرار دارند ویا درموقعیت ضعیف تدافعی بسر میبرند ، برای اینکه نشان بدهد که نیروهایش اکنون نیز توانایی هجوم بر مواضع وسنگر های مجاهدین را دارد قوای اجیرو فاقد مورال خود را غرض تسخیر مراکز مجاهدین به ولایت لوگر سوق داده است وادعا دارد که دراین راستابه پیروزی های نایل امده است وبطرف مناطق تحت کنترول مجاهدین پیشروی نموده است اولا این ادعای رژیم مرتد کابل واقعیت ندارد وثانیا اگر ندرتا پیروزی ناچیز موقت صورت گرفته باشد ، مطمئن هستیم مجاهدین مومن ما انها را در اسرع وقت مجبور به عقب نشینی خواهد کرد .

درمقطع کنونی زمان که درحقیقت موقع به اجرا دراوردن عملیات فاتحانه ومرگبار علیه نیروهای اجیر رژیم کمونست است نیروهای جهادی باید همبستگی ووحدت کامل خود را حفظ کنند ویا کمال هماهنگی واتحاد اخرین ضربات فیصله کن خود را بر پیکر لرزان وروبه انهدام رژیم ملحد نجیب وارد اورند وبه عمر ننگین ذلتبار وجنایتبارش خاتمه دهند تاحکومت کاملا اسلامی وعاری ازهرنوع سازش وکنار ایی با اندیشه کفری ، شرکی ، کمونستی وامپریالیستی که ارمان بس محبوب یك ملیون وشش لك فرزندان رشید وشهید کشور است و با دلبستگی تمام به این ارمان جانهای عزیز خود را فدا کردند ، در افغانستان یك حکومت اسلامی وسرفراز قائم گردد ویکی از امکانات عمده قیادت وسیادت مسلمانان واعاده مجدد عظمت گذشته مسلمانان دردنیا که فرزندان امت مسلمه درگوشه وکنارجهان چشم امید خود را جهت نیل به این هدف به جهاد شکوهمند ملت مومن افغان دوخته اند ، عرض وجود کند ، تا رفته رفته طی جهاد وفداکاریهای بیدریغ مسلمانان که مرکزیت اداره وقیادت ان افغانستان اسلامی باشد بر قاطبه توده های بشری ایین انسان ساز، نجات بخش وسعادت افرین اسلام حکومت کند و درپرتو ان نه تنها مسلمانان محکوم ومظلوم دنیا بلکه سایر اقشار تحت ستم دربند ومورد ظلم نظامهای طاغوتی وشیطانی نیز نجات یابند وتهدید ، اختناق ، ظلم ، تجاوز ولجام گسیختگی های گوناگون دربین جامعه بشری پایان یابد وبشریت به ارزوهای فطری خویش که عبارت از رفع نیازمندیهای روحی وجسمی است نایل گردد واین فرموده رب الجلیل بااین مفهوم که : تاان دم به کفارمقاتله کنید*که درسراسر جهان فقط دین خداوند (جلت عظمته) حکومت کند ، تحقق یابد.به امید ان روز .

> **مطابق به فرموده رب الجلیل « تاان دم با کفار مقاتله کنید که درسراسر جهان فقط دین خداوند (جلت عظمته) حکومت کند ».**

افغانانو ته داسې اتحاد پکاردی چې ...

« دمجاهدینو ټولو قوماندانانو دغه طرحه رد کړی چی مجاهدین دی له نجیب سره یو ائتلافی حکومت جوړکړی دهغوی دوطن «کمونست » ګوند دې پرځای وي ، اومجاهدین دې په انتخاباتو کی برخه واخلی ، مجاهدینو او قوماندانانو « بیننند سیوان » ته وویل چی زموږ جهاد به تر هغه وخته ادامه ولری ترڅو موچی دنجیب رژیم نه وی نسکورکړی موږبه دنجیب له رژیم پرته دافغانستان دټولو اقشارو په ګډون اوخوښه حکومت جوړکړو »

حقانی صاحب زیاته کړه :« موږ دملګرو ملتواستازی ته یو پیشنهاد وکړ، زموږ پیشنهاد داؤ چی ټولی نړی ته معلومه ده چی دنجیب رژیم یو مزدور او دروسانو لاس کینولی رژیم دی ، پخوا دروسانو پوځونو په مستقیم ډول حمایه کولو اواوس هم ورته وسلی اومرستی استوی ، ددی حکومت ظلم او جنایات هم له چاڅخه پټ ندی ، نو کله چی صدام حسین پرکویټ باندی دتیری له امله ظالم او جابر بلل کیږی نو نجیب هم باید همدارنګه مجازات شی باید هغه له قدرت څخه لاس واخلی ، دجنګی مجرم په حیث دی وپیژندل شی ، اوپه همدی نامه باندی دی محاکمه شی ، مرستی باید پری قطع شی ، او دجنګ تاوان هم باید ورکړی .

نو زموږ پیشنهاد دادی چی دملګرو ملتوسازمان دی باید نجیب ددی شیانو منلو ته اماده کړی پدی هکله دی هم همداسی فیصله وکړی لکه چی دصدام حسین په هکله یی کړی ده »

الحاج حقانی دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی چی ځینی جهادی مشران شکایت لری چی اوس خارجی مرستی مستقیماًدقوماندانانو شورا ته ورکول کیږی وویل :

« تراوسه پوری دشورا اکثره قوماند انان دتنظیمونو غړی دی اوهرڅوك دخپلو تنظیمونو نه وسله اونوری مرستی ترلاسه کوی،تراوسه دقوماندانانو له شورا سره مستقیمی مرستی ندی شوی ، دقوماندانانو شورا ځان ته کوم بیل تنظیم او کومه بیله اداره نده ، دجګړی په وخت کی محلی اوسیمه ایزی شوراګانی دسرتاسری شورا له لاری وسلی اومهمات ترلاسه کوی چی دغه تعامل پخوا هم موجود ؤ ، اوفعلاً هم شته »

حقانی صاحب دامریکا غږ راډیو ددی پوښتنی په ځواب کی چی :

« دافغانستان دچارو لپاره دامریکی حکومت خاص استازی پیټر ټامسن اودهغه مرستیال دافغانستان دستونزي دسیاسي حل لپاره دهلو ځلو په لړکی په اسلام آباد اوپیښور کی دمجاهدینو له مشرانو او قوماندانانو سره کتلی دی » وویل :

« کیدای شی پیټرټامسن په شخصی ډول له ځینو قوماندانانو سره بیل بیل کتلی وی ، خوزه پدی هکله معلومات نلرم ، ولی دقوماندانانو له شورا سره یی ندی کتلی »

حقانی صاحب دمرکی په پای کی ددریو تنظیمونو داتحاد په هکله خپل نظر داسی څرګند کړ :

« دغه اتحاد دجهاد په ګټه نه ښکاری ، دافغانانولپاره داسی اتحاد په کاردی چی ټول تنظیمونه ، قومي مشران علماء،سیاست پوهان اوبا دیانته روشنفکران پکی موجود وي ، دغه اتحاد یو نیمګړی اتحاد دی، اودافغانستان دمجاهد ملت په ګټه نه تمامیږی.»

په افغانستان کې دکي،جي،بي ...

خوکله چې دکودتا پلان د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نیټې څخه یوه ورځ مخکې داسلم وطنجار اوعبدالقادر په لاس ورغی روسان یې په ټولو جزیاتوخبر اودهغه دعملي کولو لارې چارې اوددغه پلان عملي کولو ته دپرچمیانو هڅول اودخلقیانو سره ددوی همکاري دروسانو په دستور صورت ونیوه .

کله چې د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور په ۷ نیټه دکابل پلچرخي څلورمې زغروالې لوا څخه داسلم وطنجار په قوماندە (اسلم وطنجار دخلقیانو په نظامي څانګې پورې اړه درلوده) ټانکونه راووتل دکابل پلچرخي دپنځلسمې زغروالې لوا څخه دمحمد رفیع (محمد رفیع دثور کودتا څخه وروسته په لومړی کابینه کې د«فوائد عامه وزارت » دوزیر په حیث مقرر شو اودپرچمیانو په نظامي څانګه پورې یې اړه درلوده) په قوماندە وروسته له هغه چې دخلقیانو نظامي څانګې ټانکونه ارګ ته ورننږدې شوې ووراووتل په دې مرحله کې اسلم وطنجار اومحمد رفیع دیو اوبل څخه بې خبره وو اما دروسانو په واسطه دادواړه قواوې یو اوبل ته ددوستو قواؤ په نوم ورو پیژندل شوې . په همدې ترتیب سره داردو په یوشمیر نورو قطعاتو اوجزوتامونو کې هم دې ته ورته عمل ترسره شو خوبیا هم لکه څنګه چې پخوا هم ذکرشویدي په کودتا کې دپرچمیانو نظامي څانګې رول دخلقیانونظامي څانګې په تناسب کم ؤ اوپه کابل کې دکودتاچیانو په واسطه سره دسیاسي قدرت دنیولوسره سم دخلقیانو نظامي څانګې افسرانو له خوا دپرچمیانو نظامي څانګې افسرانو ته داسې خطاب کیده چې پرچمیانو په کودتاکې (دوي به انقلاب ویل)دداؤد له قواؤڅخه ملاترکاوه خوداڅرګنده اوپه ډانګ پیلي ښکاریده چې دخلقیانو نظامي څانګې افسرانو له خوا په مجموع کې پرچمیان دکودتا (دوي به انقلاب ویل) ضد معرفي کیدل .

نور بیا

څه ډول اتحاد

زموږ دمجاهد ملت غوښتنه اودحالاتو ...

دبری په وړاندی دشرق اوغرب ګډه توطئه وبلله اوځینو نورویی ددغه وړاندیز دیو شمیر مادوسره خپله موافقه اورضایت وښود یواځی له نجیب سره ګډ حکومت اوخبری اتری یی رد کړی اوځینو بیا له مزدور نجیب سره خبرو اترو ته کیناستل رد کړل خودغه مزدور رژیم دغیرګوندی اشخاصو سره دخبرو اترو لپاره یی چمتوالی وښود . لنډه داچی په دریځونوکی ترزیاتی اندازی مغایرت موجود ؤ .

په دی حساسوشیبو کی چی زموږ اسلامی انقلاب دبری په درشل کی له هره اړخه دشرق اوغرب دتوطیو اودسیسو سره مخامخ دی ، دجهاد په سیاسی بعد کی ترهرڅه زیات دقیادتونو اوصفونو ترمنځ بشپړ وحدت ته اړتیا لیدل کیږی ، اودا اوس چی یوځل بیا ددوه ګونو اودری ګونو اتحادونو آوازی خپری دی ، زموږ دمجاهد ملت په استعمارځپلی او خپل منځی اختلافاتو ژوبل کړی وجود ددرلونو دوانشی کیدای لکه چی پیاوړی مجاهد الحاج مولانا جلال الدین «حقانی » په دی وروستیو وختونو کی په خپله یوه مرکه کی څرګنده کړی چی:«اوس مجاهدو افغانانو ته داسی اتحاد پکاردی چی په هغه کی ټول جهادی قوتونه ، علماء ، سپین ږیری اوروشنفکران اوسیاست پوهان برخه ولری.

پرته له دی چی کوم اتحاد راځی هغه به یونیمګړی اتحاد وی اوزموږ دمجاهد ملت په ګټه نه تمامیږی»

نوددغسی څوګونو اتحادونو رامینځ ته کول دپخوانیو ناکامو تجربو بیا تکرار وی هیڅ مطلوبه نتیجه تری لاس ته نه راځي.

(وماعلینا الالبلاغ)

دکابل دمزدور رژیم هڅکندن ...

افتخار یوازی او یوازی دهغه شهادت پال ولس دوینو قربانیو اوقهرمانیو محصول دی چی دخپل شرف اوازادی په لار کی یی ۱۶ لکه شهیدان ورکړی دی .

خو دا ضرور وایو چی دافغانستان دمومن ملت دقربانیو دمطلوبی نتیجی په وړاندی ځنډونه اوخنډونه دروس او لویدیځ دنږدی کیدو او تفاهم نتیجه ده .

طبیعی خبره ده چی پر روس برسیره زموږ مجاهد ولس اوس دلویدیځ له ښکیلاکی دسیسو سره هم لاس اوګریوان دی ، هغه ښکیلاك چی روس غوندی زموږ دملت په وګړو کی لاس هم لری ، نن چی دنړیوالو ښکیلاکی ځواکونو په مقابل کی مجاهد افغان په یوازی ځان دعصر له ستر امتحان سره مخ دی ددغه امتحان له میدان څخه روغ راوتل اوبریمن کیدل بیا هم له معجزی نه کم نه دی. نوکله چی زموږ له هیواد نه دروسیی پوځونه ووتل ، ظاهره خوداسی بریښیدله چی دنجیب رژیم بی وسه اوبی ځواکه شو او زر ترزره به رانسکور شی خوپه حقیقت کی له دغه مزدور رژیم سره دنړیوال کفر همدردی اومرستی زیاتی پراخی اوهر اړخیزی شوی اوټول استکباری ځواکونه عملا دمجاهدوافغانانو پرخلاف په یوه مورچل کی ودریدل ، له بلی خوا پردی، ترخه واقعیت هم باید اعتراف وکړو چی مجاهدین هم متاسفانه دبری پر درشل دفتحی په نشه دومره مغرور او بی خوده شول چی دښمن ته ترخه وخته دپائیدلو زمینه برابره شوه .

همدارنګه دخلیج جګړی زموږ قضیه ډیره په نړیوالو اذهانو کی له پامه وغورځوله چی داهم زموږ دجهاد پرضد دیوه بین المللی سازش له حلقو څخه ګڼلی شی چی یو هدف به یکی دافغان جهاد دبین المللی ملاتړ کمزوری کول وو .

په هرصورت دروسانو له وتلو نه وروسته تراوسه پوری له دوه کلونو نه زیاته موده تیریږی که څه هم دخوست برمیالی فتحی اوپه هیواد کی دمجاهدینو دبریالیو عملیاتو دوام درژیم پر لړزانده بنیادونوزلزلی ګډی کړی خوکه بیا هم مجاهدین دخپلو راتلونکو اهدافو په اړه له یو بل سره دتفاهم اووحدت پر تهغر کښینني،کیدای شی دمزدور رژیم عمر نور هم اوږد شی ، موږ په دی باور یو چی په افغانستان کی به بالاخره دولس له خوښی اوغوښتنی سره سم اسلامی نظام منځته راځی ، خوزموږ دجهاد پر ضد بین المللی سازشونه اودمجاهدینو خپلمنځی خام او کشمکشونه درژیم عمر اوږدولای شی ، چی دداسی حالت دوام هم طبعاً پردیو ته دلاسوهنی ښه زمینه برابروی ،دکابل مزدور رژیم رښتیا هم دمرګ او ژوند ترمنځ په کشمکش کی دی چی دمجاهدینو ګډه ستراتیژی اووحدت به پر هغه وروستی ګوزاروی اودنور ژوند اوبایښت فرصت به له لاسه ورکوی .

فتح تاریخي خوست وماتم ...

اند دراستانه پیروزی جفانه کنند وبالاخره فتح خوست برای خودمجاهدین نیز حیثیت اجیر بیدار باش راداشت و نشان داد دشمن تاچه اندازه پست وزبون است که حتی بزرگترین گارنیزیون ها وقرارگاه های ان ها با تمام سازوبرگ نظامی هم نمی تواند دربرابر وحدت ویك پارچگی ان تاب مقاومت داشته باشد همچنین فتح خوست برای ان عده ملیشه های دولتی که درگوشه وکنار کشور خود را درمقابل پول اجیر نموده اند پیام برگشت به دامن ملت واغوش میهن دارد وثابت می سازد که هیچ نیرو وقدرتی درمقابل اراده شکست ناپذیر مجاهدین که تائید پروردگار لایزال باان هاست یارای ایستادگی وتاب مقاومت راندارد ومقاومت جاهلانه ان ها به مثابه سربه سنگ کوبیدن است واگر ان ها به مجاهدین تسلیم شوند وازگذشته شان نادم باشند باوجود تمام جنایات شان درگذشته مورد عفوقرار می گیرند چنانچه همین اکنون هزاران تن از هم مسلکان ان ها که خود را به مجاهدین تسلیم نموده اند ازعسکر تا افسر درامن وسلامت به سرمی برند تاجائیکه وقتی هیات های بین المللی باان ها ملاقات می نماید رویه مجاهدین با اسراوتوابین رانهایت عالی ودرخور تحسین دانسته ازان ها قدردانی می نمایند دران طرف فتح خوست برای رژیم نزدیك شدن به اخرین روزهای زندگی تلقی شده روز ماتم اعلان می شود فتح خوست دشمن رادیوانه وافسرده ساخته ومانند غریقی به هرخس وخاشاك دست می اندازد تاخدای ناکرده فضا رامکدر نموده واهمیت این فتح بزرگ راکه از بزرگترین حماسه های تاریخ انقلاب اسلامی خواهد بود کم نماید که ان شاالله به هوشیاری وبیداری مجاهدین پاك باز دسیسه ها وتوطئه ها کارگرنخواهد افتاد وفتح خوست مقدمه فتوحات دیگر درسراسر افغانستان خواهد بود .

ثه دول اتحاد

زموږ دمجاهد ملت غوښتنه اوحالاتو . . .

دجګړیو اوږدتیو ترمنځ واټن کی چی دخپل منځی اختلافاتو اوپله بازیو اوناروا سیاسی رقابتونو له امله زموږ پرملت دمأیوسی اونهیلی کومه کرېجنه فضاء رامنځ ته شوی ، هغه په نسبی توګه له منځه تللی اوپه جهادی ځواکونوکی دجګړیز مورال ، جذبی اوروحیی دلوړتیا اوپیاوړتیا سبب ګرځیدلی اودالله (ج) په نصرت اودغو نسبی اتحادونوپه برکت په ډیرو کمو مادی وسایلو چی ددښمن په انډول په نشت برابر وو داسی ستری فتحی اوبریاوی ترلاسه شوی چی نړۍ یی کوته په غاښ کړی ، خوله بدشامته چی دغی وضعی بیاترډیره پایښت نه دی موندلی اوبی ځایه لاسوهنو دجهادی قیادتونو دوبځان غوښتنو، قدرت خوښونی اوهوسونو ښکارشوی اوپه بیلو بیلو بڼویی په پټه اوښکاره ډګیدنی اوتالاترغه کیدنی لپاره شومی هلی ځلی اوکوښښونه پیل شوی کله دبنیادګراومیانه رو په نومونو اوکله په یوه اوبل نوم اوعنوان صفونه اولیکی جلا شوی اوبخپل منځی اختلافاتو بازار تومره تود شوی چی اصلی دښمن (روس اودهغوی مزدوران)په ځای پاتی شوی اویو دبل پرخلاف له کرکی ، کینی اودښمنی ډک دریځونه نیول شوی اودی وضعی له دفترونو نه جهادی سنګرونو ته سرایت کړی اوملته یی حالات اومناسبات کړکیچن کړی دی ،اوداچی دی مسئلی زموږ داسلامی انقلاب دبری اوسر منزل ته دررسیدو په لارکی څومره خنډونه اوځنډونه رامخی ته کړل اوزموږدین اووطن دښمنانو ته یی څومره ګټه ورسیدله هغه موږ ټخپلو سترګو ولیدله اوچی لاتراوسه دروسانو مزدور رژیم دهیواد په څینو برخو اومرکزونو کی دوسلی په زور مسلط پاتی دی سترلامل یی همدغه اختلافات دی .

موږ دلته ددغو اتحادونو ، ائتلافونو اوموقتی حکومتونو درامنځ ته کیدلو اوړنګیدلو په سیاسی اوتاریخی پس منظربحث کول نه غواړو اونه یی داهدافو اومقاصدو څیړنه اوسپړنه کوو، خودا خبری یانونه ضروری اوحتلی لازمی بولو چی زموږ مجاهد ملت اومؤمنو وګړو دجهاداوپاڅون په دغه زمانی واټن کی دحالاتو دسیاسی داد لون بدلون دعینی شاهدانو اولیدونکو په توګه ترډیره حده داحقایق درک کړی چی دادخپلی ایمانی اووجدانی وظیفی اومکلفیت له مخی زموږ د ملت اوجهاد دلیکو اوصفونونوحدت اوواحد سیاسی تشکل په خاطر دڼوله کومی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کړی اوچادخپلو شخصی غرضونو اوناوړه اهدافوله مخی داختلافاتو په رامنځ ته کولو اوواحدو صفونو دجلا کولو لپاره شومی هڅی کړی دی .

زموږ مجاهد ملت په تش لاس اودایمان اوعقیدی په زور دیو لوی جهانی اوطاغوتی استکباری ځواك په وړاندی په میړانه مقابله وکړه ، دمادی وسایلو له مخی ددغه ناانډوله جګړی له نظامی ډګر څخه بریالی راووت اودالله (ج) په حضور کی دبیدریغه قربانیو په وړاندی کولوسره یی ددین اووطن دښمنانوته داسی شرمیدلی ماتی ورکړه چی دنړۍ په تاریخ کی یی ساری نه شوپیداکولی .

خوپه سیاسی ډګرکی دیو واحد اداری تشکل اوارګان نه موجودیت پاتی راوستی دی اودنظامی ډګر بریاوی یی هم ترډیره حده تراغیزی لاندی راوستی دی

ترکومه چی خبره دجهاد په نظامی ډګرپوری اړه لری دافغانستان دقوماندانانو دسرتاسری شورا په رامینځ ته کیدو اوفعالیتو سره داستونزه ترډیره حده له مینځه تللی اوټول هیواد په سطحه جهادی قوتونه ددغه شورا په چوکاټ کی دیوی واحدی نظامی ستراتیژی په جوړولو موفق شوی .

خودجهاد په سیاسی بعد لا همداغسی داختلافاتو اوځان غوښتنواړی او تیاری خپری دی .

اوداافغانستان دقضیی دحل اودبری سرمنزل ته دجهادی پاڅون دررسولو په اړه په نظرونو او دریځونو کی ځرګند اختلافات لیدل کیږی ، چی دلته یی دبیلګی په توګه په دی وروستیو وختونوکي دافغانستان دقضیی دسوله ایز اوسیاسی حل په اړوند دملګرو ملتونو داستازی دپنځه فقره ایزه وړاندیز په وړاندی دجهادی قیادتونو بیلا بیلو دریځونو یادونه کوو چی څینو دغه وړاندیز په تمامه معنا رد کړ اوهغه یی زموږ دجهاد

په ۷ مخ

په ګردیز باندې دمجاهدینو عملیات پراخه شول

پکتیا ، دجهادهنداره خبریال :

دهغو رپوټونوله مخي چي دالحاج مولانا جلال الدین حقاني دجبهاتو له عمومي قوماندانی څخه دجهاد هنداري اداري ته رارسیدلي ویل شوي چي دګردیز پرمحاصره شوي ښارباندي دمجاهدینو ګلیو اومنظمو عملیاتو پراختیا موندلي اودمحاصري کړي نوره هم تنګه شوي .

بل لوري ته دکابل مزدور رژیم الوتکو هم دګردیز ښارپرشاوخوا کلیو باندي شدیده بمباري کړي .

خبرونه وايي دمزدور رژیم دناپالم بمونو دغورځیدو له امله څه دپاسه (۱۷) کلي پوره زیانمن شوي .

ددي کلیو اوسیدونکو غرني سیمو ته پناه وړي ده .

دالحاج مولوي حقاني دجبهاتو څخه زموږخبریال ددي رپوټ دورکولو په ترڅ کي زیاته کړي ده چي دکابل رژیم دجنګي تدابیرو دنیولو په ترڅ کي د«زرمت» او «غزني » څخه خپلي ټولي پوځي دستي دګردیز لوري ته منتقل کړي اوغواړي پدي توګه دګردیز ښاردسقوط څخه مخنیوي وکړي .

همدارنګه دپکتیا ولایت څخه دیوه بل خبرله مخي ویل شوي چي ددي ولایت دبیلابیلو تنظیمونو مجاهدینو یوه ۱۰۰ کسیزه عمومي شورا جوړه کړي چي پدي شوراکي داووتنظیمونو څخه ۱۴ ، ۱۴ کسان اودوه کسه هم دمولوي نصرالله منصور دحرکت انقلاب اسلامي څخه برخه لري .

۳۵ عراده موتر و(۵)عراده تانك رژیم کمونیست درپروان به اتش کشیده شد

یك منبع جهادی به میدیا گزارش داده است ، مجاهدین غیور به روز ٤ جوزا یك کاروان اکمالاتی رژیم راکه ازحیرتان بسوی کابل درحرکت بود درمسیرراه جبل السراج چاریکار هدف حمله راکتی قرارادادند که درنتیجه ۳۵ عراده موتر نظامی و ٥عراده تانك محاربوی حریق گردیده وسرنشینان ان همه به هلاکت رسیدند .

طبق راپور دراثراین حمله شاهراه جبل السراج-چاریکار تادو روز به روی ترافیك مسدودگردیده بود همچنان درراپورعلاوه شده که مجاهدین به روز اول جوزا مراکز نظامی رژیم ، فرقه پیاده وکمیته ولایتی درشهرپروان راهدف اتش سلاح های ثقیل قراردادند که ٥۰ تن از عساکر وملیشه به هلاکت رسیده و ۲٥ تن دیگر زخمی شدند.

گزارش می افزاید ، طیارات وتوپخانه رژیم کابل بخاطر انتقام گیری ازین عملیات مجاهدین مناطق مختلف را درولسوالی جبل السراج وچاریکار اززمین وهوا مورد اتش سلاح ثقیله وبمباردمان قرار دادند که ازتلفات اهالی ومجاهدین اطلاعی دردست نیست .

دکندز او بغلان دلویې لارې دنیولو لپاره دمجاهدینو اوکمونست رژیم دقواو ترمنځ جګړه دوام لري

میډیا :

په پیښور کی یوجهادی خبر ځای دبغلان ولایت څخه درادیویی پیغام په حواله میډیا ته رپوټ ورکړ چی دبغلان ولایت دمرکز اودکندز ولایت دلویی لاری دنیولو لپاره دمجاهدینو اودکابل رژیم دقواو ترمنځ دجوزاد۸ او ۹ نیټی راهیسی دجلوګیرپه سیمه کی متقابله سخته جګړه روانه ده اودواړو خواو دسرك اوسیند په اوږدو کی مورچی وهلی دی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو دکمونستی رژیم په تعرضی قواو باندی دجلوګیر په سیمه کی دیوی حملی په ترڅ کی دری عرادی نظامی موټر داور لمبه کړی ، ٥ عسکریی وژلی او۸ نور یی دوسلو سره ژوندی نیولی اوپاتی قواوی یی دکندز اوبغلان په لور په شاتمبولی دی .

درپوټ مطابق مجاهدینو پدغو دوه ورځنی پرله پسی بریدونو کی دکمونستی قواو دلاری دڅارنی پنځه پوستی فتحه کړی اویو زیات شمیر نظامی مهمات یی په ولجه نیولی دی .

اخری رپوټونه وایی چی دبغلان اوشیرخان بندر ترمنځ لویه لاره دمجاهدینو لخوا تړل شوی اوجګړه روانه ده .

دهیئت تحریر ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
تیلفون : ... (۸۱۲۲۵۱)

اعلان

دافغانستان دجهادی قوماندانانو سرتاسری شورا دع ، ع معاذ

په میرامشاه کی دحضرت عبدالله بن مبارك (رض) حربی پوهنتون داول صنف لپاره محصلین منی.

ټولومجاهدواومهاجروورونوته چی د۱۲ ټولګی اویا دهغه معادل تعلیمی سویه ولری خبرورکول کیږی چی دنمایندګیو(دهراسلامی تنظیم چی وی) داصولی ضمانت سره په لاندینی نیټولاندی ځایونوته دسهارپه ۹ بجودکانکوردازموینی لپاره حاضرشی .

۱:- په میرانشاه کی د(۱۳۷۰ کال دجوزاپه ۳۰) نیټه حربی پوهنتون ته .

۲:- په پیښورکی د۱۳۷۰ کال دجوزاپه ۲۸ نیټه حیات اباد کی دمولوی صاحب جلال الدین حقانی دفترته «دناران باغ غرب طرف ته »

۳:-په هنګوکی د۱۳۷۰ کال دجوزا په ۲۲ نیټه دحضرت علی «رض» اویا اتحاد لیسی ته .

٤:- په هریپورکی د۱۳۷۰ کال دسرطان په شپږمه نیټه دمولوی صاحب محمدیونس خالص دنمایندګی دفترته «لوهاره بازار هریپور»

٥:- په باجوړکی د۱۳۷۰کال دسرطان په اتمه نیټه دمولوی صاحب محمد یونس خالص دنمایندګی دفترته .

یادونه:

په نوموړوځایونوکی ثبت نام د۱۳۷۰ کال دجوزادمیاشتی له ۲۰ نیټی څخه دازموینی تروروځی پوری دوام لری .

دعبدالله بن مبارك «رض» حربی پوهنتون دقوماندانی له خوا

دجوزجان ولایت په مربوطاتو کې ورانونکی سیلابونه

جوزجان ، دجوزا ۱۳

دهغه رپوټ لـه مخـی چی دقوماندانانو شورا دخبری منابعو داداری لـه خـوا رارسیدلی ویـل شوی چی ددی وروستیو پرلـه پسی اوریښتونو په اثر دجوزجان ولایت داقچی ولسوالی مربوط دفیض اباد په علاقه داری کی ورانونکی سیلابونه راپورته شوی چی دلاری په اوږدوکی یی (۲۱) کلی په بشپړه توګه وران کړی دی ویل کیږی چی ددی سیلابونو په اثـر د (٥۰۰۰) کسـانـو پـه شاوخوا کی مړه یاژوبل شوی ، همدارنګه یوشمیر څاروی هم ددی سیلابونو له امله له منځه تللی دی .

خبر وایی چی ددغوسیلاب څپلو سره تر اوسه له هیڅ منبع څخه مرسته نده شوی .

دهند دکانګریس ګوند نوی مشر وټاکل شو

نوی ډیلی، دجوزا ۸ مه :

دهند دکانګریس ګوند مرکزی کمیټی دیوی غونډی په ترڅ کی ددی ګوند غړی اودهند دبهرنیو چارو پخوانی وزیر « نارسیم هاراو» ددی ګوند دنوی مشر په توګه وټاکلو .

دګوند دمشر په توګه له ټاکلو وروسته «هاراو» دیوی وینا په ترڅ کی ادعا کړی ده چی یوازی دده ګوند کولای شی په هند کی یو مظبـوط اوقـوی حکـومـت جوړکړی چی دهند ملی وحدت پری وساتل شی .

دکـانـګریـس ګـوند دمـرکـزی کمیټی دفیصلی په اساس دګوند نوی مشر به دراجیو ګاندی له کونډی سونیا ګاندی څخه په مداومـه تـوګـه هدایت اخلی .

اعتصاب اعتراضي شهريان هرات عليه مظالم رژيم

هرات میدیا

دکانداران مرکز هرات به عنوان اعتراض علیه بمباران های متداوم قوای هوائی رژیم کابل درهرات بخصوص درولسوالی زنده جان که به قتل عام مردم انجامیده است ، دست به اعتصاب عمومی زده وبازار های شهر هرات اکنون به حال تعطیل کامل درامده است .

راپور می افزاید ، دامنه ء این اعتصاب که ازتاریخ ٦ جوزا اغاز شده به سراسر شهرتوسعه پیدا کرده است .

طبق راپور ، مظاهرات وسیعی نیز به اشتراك اصناف بازاریان وسایر سکنه شهر هرات براه انداخته شده ودراعلامیه هائیکه طی جلسات صادر گردیده ، تجاوز وبرخورد غیر انسانی قوای رژیم ملحد کابل محکوم ومردم هرات به قیام عمومی دعوت شده اند .

راپور هاحاکیست که در اعلامیه های صادر شده از مسلمانان درسراسر جهان دعوت بعمل امده تابابرپایی تظاهرات وگردهمایی ها نفرت وانزجار شانرا در برابر عمل بی شرمانه مزدوران کمونیزم ابرازومسوولیت انسانی واسلامی شانرا اداٌنمایند .

گفته میشود که قوای هوایی رژیم ظرف ۲۱ روز اخیر مناطق مختلف ولایت ازجمله ولسوالی زنده جان درغرب ولایت مذکور را که رژیم خود انجا را منطقه صلح اعلام کرده است از هواوزمین هدف بمباران ها واتشباری قرارداده که بالاثر هزاران خانواده پای برهنه به ایران مهاجر شده اند .

همچنان بر اثر این بمباران ملکیت عامه مردم ازبین رفته وصد ها جوان مناطق مورد هجوم ، به جبر وزور به عسکری سوق داده شده اند .

دنوبنار سره نږدی په یو پوځی ډیپو کې اورولګید .

نوښار ، دجوزا لسمه :

دنوښارسره نږدی دوبلرشی » په سیمه کی دجمعی په ماښام دپاکستانی پوځیانو دوسلو په یوه ډیپو کی داوردلګیدلو له کبله دتوغندیو او بمونو یو شمیر چاودنی وشوی .

دیوه اټکل له مخی په ډیپو کی ۲٥ زره ټنه چاودیدونکی مواد پراته وُ چی زرټنه یی له منځه ولاړل خو ډیر ژر ۹۰ فیصده اور اوچاودنی په کنترول کی راوستل شوی پدغه پیښه کی دوه تنه پوځیان او ۱۰ تنه کلیوال په حق رسیدلی اوتقریبا ۳۸ تنه نور ټپیان شویدی.